لا اله الا الله محمد رسول الله

الله اکبر

إن الحكم إلا لله

د افغانستان اسلامی دولت
۱۱۲۶ه‌ش

## د اسلامي دولت

# اساسي قانون

حکمتیار

# د اسلامي دولت اساسي قانون

د اسلامي دولت اساسي قانون

## فهرست


| عنوان | | صفحه |
|---|---|---|
| سریزه | | الف |
| لومړی فصل - | عمومیات | ۱ |
| دوهم فصل - | د اتباعو اساسي حقوق | ۱۲ |
| دریيم فصل - | ولسمشر | ۳۰ |
| څلورم فصل - | حکومت | ۳۷ |
| پنځم فصل - | ولسي جرگه | ۴۱ |
| شپږم فصل - | ستره شوری | ۵۰ |
| اوم فصل - | قضاء | ۵۲ |
| اتم فصل - | قانون ساتې شوری | ۵۸ |
| نهم فصل - | اداره | ۶۰ |
| لسم فصل - | اضطراري حالت | ۶۴ |
| یولسم فصل - | متفرقه احکام | ۶۶ |

بسم الله الرحمن الرحيم

# سريزه

افغان سرلوړی او مؤمن ولس په دې ایمان لري چي:

- الله تعالی د ځمکي او آسمانونو یوازنی رب دی چي له ده پرته بل معبود نشته.
- قرآن وروستی الهي کتاب او محمد علیه الصلاة و السلام د الله تعالی آخري پیغمبر او د قیامت تر ورځي د نړۍ د ټولو انسانانو لارښود دی.
- انسان د الله تعالی د خلیفه په توگه په دې مامور دئ چي نه به له الله تعالی پرته د بل چا په وړاندي د انقیاد او عبادت سر ټیټوي او نه به له ده پرته بل چا ته د استعانت لاس اوږدوي، د ژوندانه ټولي چاري به د قرآن د لارښوونو په رڼا کي تنظیموي، ټول انسانان به د یوې ستري کورنۍ غړي گڼي، اجتماعي عدالت او د انسانانو ترمنځ وروروليِ به ئې شعار وي، له ظلم، د بل پر حقوقو له تېري، د ظالم له ملگرتیا او ظلم ته له تسلیمېدو به ډډه کوي، په عدالت او برابرۍ





ولاړه داسي هوسا او ډاډمنه ټولنه به جوړوي چي د هر انسان ژوند، کرامت، حقوق او شتمني له هر راز تیري او تعرض خوندي وي، چارواکي د خلکو استازي او د قانون پلي کول، حق ته بلنه، په معروف گمارنه، د منکراتو مخنیوی، د ظلم او ظالم مقابله او له مظلوم نه دفاع ئې دنده وي.

- په دې حقایقو ایمان سره، دغو سترو او سپېڅلو اهدافو ته د رسېدو په هیله او په سرلوړي، خپلواك او آزاد افغانستان کي د یوه واقعي اسلامي نظام د قائمولو په موخه، د اسلامي دولت دا اساسي قانون لیکل شوی او د **۱۴۲۸**هجري قمري کال د ذی القعدې په میاشت کي د علماوو او قانون پوهانو یوې درنې او معتبرې جرگې ته د بحث، تدقیق او تصویب لپاره وړاندي شوی.

# لومړی فصل
## عمومیات

لومړی ماده

افغانستان خپلواك اسلامي هېواد دی چي د اسلامي دولت په نامه یادېږي.

دوهمه ماده

اسلام زموږ دین، د ژوند په ټولو چارو کي زموږ لارښود او د ټولني د ټولو قوانینو، مقرراتو، مناهجو او سیاستونو یوازینی مأخذ دی.

دریمه ماده

د افغانستان په اسلامی دولت کي حنفي فقه رسمي مذهب دئ، د نورو حقه اسلامي مذاهبو درناوی کېږي، د نورو ادیانو او مذاهبو پلویان د شریعت او قانون په رڼا کي د خپلو دیني او مذهبي مراسمو ترسره کولو آزادي لري.

څلورمه ماده

- په افغانستان کي حاکمیت په الله تعالی پوري مختص دئ، انسان د الله تعالی خلیفه او حکومت د دې خلافت ممثل او د ولس



د اسلامي دولت اساسي قانون

نائب دی.

- د ولس معلن او بلا اجبار بیعت او رأیه د نظام د مشروعیت مبنا ده، یوازي هغه څوك جائز ولسمشر ګڼل کېږي چي افغان مسلمان ولس په خپله خوښه انتخاب کړی او په خپله رضاء ئې ورسره بیعت کړی وي.
- په صندوق کي رأیه اچول د بیعت نعم البدل دی، دا ځکه چي مخامخ بیعت په یوې وړې ټولنې کي ممکن دی نه په سترې ټولنې کي.

پنځمه ماده

- د افغانستان هر تبعه او تابعیت ترلاسه کوونکی؛ افغان او د دې ملت غړی ګڼل کېږي، د هېواد تابعیت در هر هېوادوال مسلم حق دی، دولت نشي کولی د چا دا حق سلب کړي، مګر د ده په غوښتنه او په هغه صورت کي چي د بل هېواد تابعیت ترلاسه کړي.
- د تابعیت اړوند مقررات د قانون له مخي تنظیمېږي.

شپږمه ماده

د دولت اساسي دندي دا دي:

- د اسلامي شریعت نفاذ،
- د قوانینو او مقرراتو تطبیق،
- د خلکو خدمت او د دوی د حقوقو ساتنه،
- له ټولو شته امکاناتو نه په استفادې سره د هېواد متوازنه ترقي او ملت ته د هوسا ژوند شرایط برابرول،

- له استقلال، خپلواکۍ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع
- او په هېواد کي د داسي واقعي عدالت او ډاډمن امنیت تأمینول چي د ټولو اوسېدونکو سر، مال، عزت او حقوق له هرراز او د هر چا له تېري خوندي وي او ټول وګړي له برابرو حقوقو څخه برخمن وي .

اومه ماده

- د افغانستان اسلامي دولت د ټولو هغو بین المللي معاهدو او نړیوالو میثاقونو درناوی کوي چي له اسلام سره مغایرت ونلري.
- په اسلامي اصولو ولاړ، فعال او مؤثر بهرنی سیاست غوره کول، له حق نه دفاع، د مظلوم مرسته، د تېری او تجاوز غندنه، د نړۍ ټول وګړی د یوې ستري کورنۍ غړي ګڼل، د نړۍ له ټولو هېوادو سره د ښو اړیکو ټینګول، له اسلامي ملکونو سره د دوستۍ او وروروليۍ ترټولو ښه روابط ساتل، په نړۍ کي د جګړې، تجاوز او تېری خاتمه، د سولي او اجتماعي عدالت تأمین، ولسونو ته د خپلي عقیدی او ملي مصالحو په رڼا کي د خپل برخلیك ټاکلو او د خپلي خوښي سیاسي نظام غوره کولو حق ورکول، پر مظلومو او بې وزلو ولسونو له بهر نه، په زور د حکومتونو او نظامونو له تپلو سره مخالفت، د نورو په کورنیو چارو کي عدم مداخله او د دوی استقلال، آزادي او ارضی تمامیت ته په درنښت کتل او د بین المللي ستونزو په سوله ییز حل تأکید کول، د افغانستان د اسلامي دولت د بهرني سیاست اساسي او اصلي کرښې جوړوي.





اتمه ماده

د افغانستان اسلامي دولت که له یوې خوا د نورو هېوادو په کورنیو چارو کي له ناروا لاسوهنو ډډه کوي، نورو ته په خپلو کورنیو چارو کي د هیڅ راز مداخلې اجازه نه ورکوي او بالمثله چلند خپل حق ګڼي. له بلي خوا د اسلامي امت د بشپړ یووالي لپاره پرله پسي، جدي او مخلصانه هڅي خپله شرعي دنده ګڼي، د اسلامي ملکونو ترمنځ د تګ راتګ لپاره د پولو له پرانستلو او د ویزې د ضرورت له ختمولو تر ګډې باصلاحیته شورى، ګډ فوځ، مشترك خارجي سیاست، ورته سیاسي او اجتماعي نظام او د ګډ پولي واحد تر درلودو او په پای کي تر بشپړ وحدت پوري تیار دی، اسلامي هېوادو ته سپارښتنه کوي چي خپل ولسونه یووالي ته چمتو کړي، له مذهبي لړکیو سره عادلانه او د اسلام له غوښتنو سره سم چلند وکړي او د یووالي په وړاندي خنډونه له منځه یوسي.

نهمه ماده

په افغانستان کي د حرامو توکیو او هر هغه څه تولید، تجارت او پیر پلور ممنوع دي چي انسان ته تاوان رسوي، هره هغه فردي او اجتماعي معامله، تجارتي راکړه ورکړه او اقتصادي پانګه اچونه د قانون خلاف ده چي بنسټ ئې په سود، احتکار، قمار، دوکې، خدعې او د انسان له مجبوریت نه په ناروا استفادې ولاړ وي.

لسمه ماده

د هېواد د اقتصادی استقلال د تضمین، د فقر او مسکنت د ختمولو

او د وګړو د اساسي اړتیاوو د تأمین لپاره د افغانستان د اسلامي دولت اقتصادي نظام پر لاندي بنسټونو ولاړ دی:

- د ټولو وګړو لپاره د استوګنځي، خوراک، لباس، روغتیا، درملني، ښووني، روزني او د کورنۍ د جوړولو لازم شرایط او امکانات برابرول.
- ټولو هېوادوالو ته د کار مناسب او ممکن شرایط برابرول.
- د کار څرنګوالی، حد او وخت داسي تنظیمول چي له یوې خوا د عادي انسان توان او قدرت په پام کي نیول شوی وي او له بلي خوا د معیشت د تأمین ترڅنګ د ژوند نورو برخو ته هم د رسېدو او پاملرني فرصت ولري.
- د شغل د انتخاب آزادي تضمین شي، څوك د خپلي خوښي خلاف کار ته اړ نشي.
- د بل له زیار نه چا ته د ناروا ګټي ترلاسه کولو مجال میسر نشي.
- په ټولو اقتصادي معاملاتو کي د سود، قمار، احتکار، انحصار، د بل حق او ګټي ته د زیان رسولو او له اسراف او تبذیر نه مخنیوی وشي.
- دولت د اسلامي اقتصادي نظام د تطبیق له لاري د دې مخه نیسي چي ثروت او شتمني د محدوو کسانو ترمنځ لاس په لاس شي او شتمنو ته د بې وزلو خلکو د ناروا استثمار مجال په لاس ورشي، له شتمنو زکات او عشر ترلاسه کول، له بې وزلو سره مرسته، د میراث وېش، په حیاتي توکیو او عامه ملکیتونو د افرادو د تسلط





مخنیوی د دولت له مهمو وظایفو څخه دي.

- له ساینسي علومو او پر مختللو وسایلو نه اعظمي استفاده.
- د هېواد په اقتصادي زېرمو او نظام د پردیو د سلطې په کلکه مخنیوی.
- په ټولو برخو کي داخلي تولیداتو ته د کمیت او کیفیت له پلوه دومره وده ورکول چي د ولس عمومي اړتیاوي تأمین کړي، هېواد په خپلو پښو ودروي او په نورو له اتکاء ئې وژغوري.
- د اسلامي دولت اقتصادي نظام په لاندي توګه دوه دولتي او خصوصي برخي لري:

۱. دولتي برخه دغه موارد احتوی کوي: ستري صنایع، لوی معادن، بانکي نظام، د برېښنا تولید، ستر بندونه او نهرونه، راډیو او ټلویزیون، مخابرات، ټلګراف او ټیلفون، هوایي شرکتونه، لاري او دې ته ورته موارد چي د عمومي ملکیت په توګه د دولت په واك کي دي.

۲. خصوصي برخه؛ کرنه، مالداري، واړه صنایع او هغه تجارتي او خدماتي برخي احتوی کوي چي د دولتي اقتصاد ممد او مکمل دي.

د هري برخي تفصیل د ځانګړي قانون له مخي توضیح کېږي.

- عمومي شتمنۍ لکه شاړي یا پرېښودل شوې ځمکي، معادن، سیندونه، نهرونه، ویالې، ډنډونه او د اوبو نوري زېرمي، غرونه، ځنګلونه، بېدیاوي، عمومي څرځایونه، بې وارثه میراث، هغه

اموال چې خاوند ئې معلوم نه وي، یا له غاصبینو مسترد کېږي، د حکومت په اختیار کې دي، ساتنه او د ټول ولس په ګټه ترې سمه استفاده د دولت دنده ده.

• دولت مکلف دی چې د شتمنیو له کنز، د ضروري او حیاتي توکیو له احتکار او د کرنیزو ځمکو له بې کرنې پاتې کېدو نه د مخنیوي لپاره جدي اقدامات وکړي او له متخلفینو سره د شرعي احکامو مطابق چلند وکړي.

• دولت موظف دی د سود، غصب، رشوت، اختلاس او نورو ناروا لارو نه ترلاسه شوې شتمني ترلاسه او اصلي خاوند یا بیت المال ته ئې وسپاري.

یولسمه ماده

• دولت خصوصي پانګه اچونه او اقتصادي تشبثات د اسلامي اقتصادي نظام په رڼا کې هڅوي، ملي پانګه اچوونکو ته د کار ټول ضروري شرایط او تسهیلات برابروي، د داخلي تولیداتو د ودې او له بهرنیو شرکتونو سره د ملي شرکتونو د سالم رقابت لپاره لازم تدابیر نیسي، نه پرېږدي چې ملي شرکتونه د بهرنیو په وړاندې له ماتې سره مخ شي، هیچا ته په بازار د تسلط او د احتکار او انحصار له لارې په خپله ګټه د نرخونو د ټاکلو او د غولوونکو اعلاناتو له لارې خپلو محصولاتو ته د بازار پیدا کولو حق نه ورکوي.

• بهرنیو پانګه والو ته د تجارت، صنعت، کرنې، کانونو او





خدماتو په اړه د شرکتونو او مؤسساتو د جوړولو امتیاز ورکول په قطعي توګه منع دي.

• هر هغه تړون چې د هېواد پر طبیعي، اقتصادي، فرهنګي او نورو برخو د پردیو د تسلط لار آواروي ممنوع دی

• دولت یوازې په ضروري مواردو کې کولی شي د ولسي جرګې په موافقه او د اړوند قانون په رڼا کې خارجي مؤسسات استخدام کړي.

دولسمه ماده

• د کورني او بهرني تجارت چارې د ځانګړو قوانینو په رڼا کې داسې تنظیمېږي چې ملي ګټې تأمین کړي، د ولس ورځنۍ ضروري اړتیاوې په آسانه او ارزانه بیه وړاندې کړي، په تجملي او غیرضروري توکیو د لګښتونو مخنیوی وکړي، بازار ته هغه څه وړاندې شي چې د ولس د اکثریت د ژوند له کچې او د هېواد له اقتصادي حالت سره سمون خوري.

• د ګمرکي محصول اندازه به دې ته په پام سره ټاکل کېږي چې عام ولس ته ئې تاوان ونه رسېږي، له نېستمنو نه د مالیې اخیستلو رنګ ونلري او بهرنیو شرکتونو ته د داخلي بازار د کنټرول مجال په لاس ورنه کړي.

دیارلسمه ماده

د افغانستان بانك د دولت مستقل مرکزي بانك دئ، تشکیل، اداره او د کار څرنګوالی ئې د ځانګړي قانون له مخې ټاکل کېږي، د

اسعارو طبع او د قانون مطابق د پيسو اړوند نظام طرحه او تطبيق د دې بانك دنده ده. د افغانستان بانكي نظام د اسلامي شريعت له غوښتنو سره سم تنظيمېږي، په دې نظام كي په ربا (سود) ولاړه معامله نشي ترسره كېدى، له مجاز حد نه زيات اسعار نشي عرضه كېدى.

څوارلسمه ماده

كرني او مالدارۍ ته وده وركول، د بزگرانو او مالدارانو اقتصادي او اجتماعي وضعيت ښه كول، كوچيانو ته ثابتي مېلي او مالدارانو ته څرځايونه برابرول، د اوبو مهارول، د شاړو ځمكو آبادول، د وچو بېدياوو خړوبول او پر بې ځمكو بزگرانو ئې وېشل د دولت له اوليتونو څخه دي.

پنځلسمه ماده

دولت به د هېواد د صنعتي كولو، د شته صنايعو د ودې، د توليداتو د مستوى لوړولو او د كسبگرو د اقتصادي او اجتماعي حالت د ښه كولو لپاره ټول هغه تدابير نيسي چي ضروري گڼل كېږي.

شپاړسمه ماده

لرغوني آثار عامه شتمني گڼل كېږي او دولت ئې د راغونډولو، ساتلو او له تخريب نه د مخنيوي دنده په غاړه لري.

اوه لسمه ماده

د ځنگلونو حفاظت، د ژوند چاپيريال رغول، د صحرايي حيواناتو





او مرغانو د ختمېدو مخنيوى د دولت له دندو څخه دي.

اتلسمه ماده

• د افغانستان په اسلامي دولت كي پښتو ملي او رسمي ژبه ده، دري او نوري محلي ژبي هم په هغو ولاياتو كي رسمي ژبي گڼل كېږي.چي تر ۵۰% زيات خلك ئې ليك لوست پرې كوي.

• دولت مكلف دئ د ټولو افغاني ژبو د ودي لپاره مناسب او اغېزمن اقدامات وكړي، په دې موخه چي د هېواد هر بچى ته په خپلي مورنۍ ژبي د زده كړي مناسب شرايط برابر شي.

• رسمي اسناد او مكاتبات او درسي كتابونه به په ملي ژبه او رسم الخط وي، له محلي ژبو نه په مطبوعاتو او خبري رسنيو كي استفاده كول او په ښوونځيو كي ئې د ادبياتو تدريس د رسمي ژبي تر څنگ آزاد دى.

• عربي ژبه چي د قرآن او اسلامي علومو ژبه ده، بايد له څلورم ټولگي نه د ثانوي دورې تر پايه په ښوونځيو كي تدريس شي.

نولسمه ماده

• د تعليم او تربيې برخي ته جدي پاملرنه، د تعليمي مراكزو د پالني او ودي لپاره ضروري شرايط برابرول، داسي تعليمي نصاب پلي كول چي زموږ په ديني ارزښتونو ولاړ او د ولس ټولو علمي اړتياوو ته ځواب ووايي، د دولت له مهمو دندو څخه دي.

• دولت مكلف دئ چي په ټولو تعليمي مؤسساتو كي د واحد منل شوى تعليمي نصاب پلي كېدا تضمين كړي.

شلمه ماده

- د افغانستان د اساسي قانون له مخي د اسلام د ستر پيغمبر محمد عليه السلام هجرت د هېواد د کليزي مبداء ګڼل کېږي.
- جمعه، د دوو اخترونو ورځي او د افغانستان د تأسيس ورځ د عمومي رخصتۍ ورځي دي.
- د رخصتۍ نوري ورځي د اړوند قانون له مخي ټاکل کېږي.

يوويشتمه

- د افغانستان بيرغ زرغون رنګ لري، سور ئې د اوږدوالي نيمايي دئ، په منځ کي ئې د افغانستان ملي نښان کاږل شوی.
- ملي نښان له دغو برخو جوړ دئ: پرانستي قرآن، د قرآن په صفحه کي د إن الحکم الا لله آيت، د الله اکبر شعار، سپين رنګي محراب، د غنمو وږي او دوه توري داسي ترې راتاو دي چي د لا اله الا الله محمد رسول الله بيرغ ئې په خپلو څوکو لوړ ساتلی، په لاندنۍ برخي کي ئې د نوي افغانستان د تأسيس نېټه ۱۱۲۲ ه ش کال او د افغانستان اسلامي دولت ليکل شوي.

دوه ويشتمه ماده

کابل د افغانستان پلازمېنه دئ.

دري ويشتمه ماده

د افغانستان ملي سرود په پښتو ژبه، حماسي، د افغان ولس د مضبوطي عقيدې، ملي وحدت او له خپل هېواد او خپلواکۍ نه د سرښندونو په بيه د دفاع ښکارندوی دی.





## دوهم فصل

## د اتباعو اساسي حقوق

څلرويشتمه ماده.

د افغانستان ټول اتباع، په هر قوم او قبيلې پوري چي تړلي وي، د قانون په وړاندي برابر او مساوي حقوق لري، رنګ، توکم، ژبه او دې ته ورته ځانګړتياوي د امتياز سبب نه ګڼل کېږي.

- د هر چا حقوق او وجايب د قانون له مخي او له هراز تبعيض نه پرته ټاکل کېږي.
- د هېواد ټول وګړي، نارينه او ښځي، يو شانته د قانون تر حمايې لاندي او له ټولو انساني، سياسی، اقتصادی، اجتماعی او فرهنګی حقوقو څخه د اسلامي شريعت په رڼا کي برخمن دي.
- دولت موظف دی چي د ښځو حقوق د اسلامي شريعت له لارښوونو سره سم په ټولو برخو کي تضمين او لاندي اقدامات وکړي:

۱. د ښځو د مادي او معنوي حقونو د احياء او د دوی د شخصيت د لوړولو او په ټولني کي د ښايسته مقام ترلاسه کولو لپاره لازم شرايط برابر کړي.

۲. د حمل او حضانت په دوران کي مېندو ته ځانګړې پاملرنه او د

بې متکفلو ماشومانو حمايت.

۳. د کورنۍ د بقا او دوام لپاره مناسب تدابير نيول.

۴. له کونډو، زړو او بې متکفلو ښځو سره مناسبې مرستې.

### پنځه ويشتمه ماده

د انسان ژوند، عزت او شتمني له هر ډول تعرض نه خوندي دي، هيڅوك حق نلري دا الهي حق له قانوني مجوز نه پرته وګواښي.

### شپږ ويشتمه ماده

آزادي د انسان حق دی، اسلامي شريعت دا حق تضمين کړی، خلکو ته د عقيدې او مذهب آزادي، د بيان آزادي، د کسب او کار د انتخاب آزادي او د مېشت ځای د غوراوي آزادي ورکوي، دا آزادي يوازې هغه مهال محدودېږي چې د نورو له حقوقو او عامه مصالحو سره تصادم وکړي او له ټاکلو پولو واوړي، دا پولې د قانون له لوري ټاکل کېږي، دولت مکلف دی چې د خلکو دا مسلم حق له هرراز تيري خوندي وساتي.

### اوه ويشتمه ماده

د قانون له مخې هر انسان تر هغه برئ الذمه دئ چې د باصلاحيته شرعي محکمې په قطعي حکم مجرم او د سزا وړ ونه ګڼل شي.

### اته ويشتمه ماده

- د هر چا ښه او بد عمل په ده پورې اړه لري، هيڅوك د بل په جرم او ګناه نشي مواخذه کېدی.
- د متهم تعقيب، د ده په اړه تجسس، تحقيق، تفتيش او د ده





نيونه، توقيف او مجازات نه بل ته سرايت کولی شي او نه د محکمې له حکم نه پرته ترسره کېدی شي.

- د هيڅ دولتي مقام په خاطر د چا خپلوانو ته تشريفاتي القاب او امتيازات نشي ورکول کېدی.
- هيڅوك د خپل اعتراف او د شاهدانو له شهادت نه پرته په خيانت او جرم نشي محکومېدی.
- د متهم کړول او په زور اعتراف ترې اخيستل جرم دی او مرتکب ئې د سزا وړ.
- د متهم هغه اعتراف قانوني اعتبار لري چې د باصلاحيته قاضي او معتبرو شاهدانو په وړاندې ئې په خپله خوښه، د عقلي روغتيا په حالت کې، له ګواښ او وېرې پرته کړی، په زور، تطميع، ګواښلو او تعذيب سره ترلاسه شوی اعتراف او شهادت د اعتبار وړ ندی.

### نه ويشتمه ماده

له قانون نه هغه مخالفت جرم بلل کېږي چې د همدې قانون له اعلان او نفاذ نه وروسته ترسره شوی وي.

### دېرشمه ماده

هيڅ افغان د محاکمې لپاره بل هېواد ته نشي سپارل کېدی، په تبعيد نشي محکومېدی او له تابعيت نه نشي محرومېدی.

### يو دېرشمه ماده

- مجرم يوازې په هغه سزا محکومېدی شي چې اسلامي شريعت ټاکلې او د باصلاحيته محکمې له لوري د جرم له اثبات نه وروسته

په خپله محاکمې ته د وړاندې کېدو په اړه معقول معاذير ولري.

• کوم متهم چې د محکمې په حکم برئ الذمه ثابت شي، د خپل حيثيت د اعادې او د مالي خسارې د جبران حق لري، محکمه به د برائت د اعلان ترڅنګ د جبران پرېکړه هم کوي.

• د بې وزلو متهمينو لپاره به د متهم په خوښه د دولت له لوري مدافع وکيل ټاکل کېږي.

• د مدافع وکيلانو وظايف او صلاحيتونه د قانون په واسطه ټاکل کېږي.

دوه دېرشمه ماده

د افغانستان اتباع د انتخابولو او انتخابېدو حق لري، له دې حق څخه د استفادې څرنګوالی او شرايط د انتخاباتو اړوند قانون توضيح کوي.

درې دېرشمه ماده

• په اسلامي دولت کې ښېګڼو ته بلنه، امر بالمعروف او نهی عن المنکر د ټولو مسلمانانو دنده ده، شرايط، حدود او کيفيت ئې د قانون له مخې ټاکل کېږي.

• هر افغان حق لري د دې اساسي قانون د مندرجو احکامو په رعايت سره خپل فکر د وينا، ليکنې او انځور له لارې بيان کړي، له نشر نه مخکې اړوند ادارو ته په ښودلو او د دوی د موافقې په ترلاسه کولو مکلف نه دی.

• هر افغان د ولسي جرګې، حکومت او قضائيه قوې په کړچار د





اورول شوې.

• د متهم د نيولو پر مهال د هغه سپکاوی او د سپکاوي د صحنې عکس او فيلم اخستل او نندارې ته ايښودل ممنوع دي، هيڅوك حق نلري چې متهم په داسي بڼې کې خلکو ته وښيي چې په لاس پښو کې ئې زنځير، سترګې ئې تړل شوې، له وېښتانو نيول شوی او يا په بلې بڼې کې د هغه سپکاوی شوی.

• د هيڅ انسان مړی (که ووړ وي که لوی، که دوست وي که دښمن، که خپل وي که پردی، که مجرم وي که بې ګناه) نه سوزول کېدی شي، نه مثله کېدی شي او نه په ډاګ پرېښودی شي چې وروست شي يا ئې ځناور وخوري.

يو دېرشمه ماده

• هر څوك په خپله يا د مدافع وکيل په واسطه د خپلې دعوی د اثبات او د اتهام په وړاندې له ځانه د دفاع حق لري.

• متهم ته به له نيول کېدو سره سم ويل کېږي چې په کوم اتهام او د چا په حکم نيول شوی.

• تر څلرويشت ساعته په کم وخت کې بايد د نيول شوي متهم مقدماتي دوسيه اړوند قضايي مراجعو ته ولېږل شي او د محاکمې مقدمات په سريع توګه برابر شي. له دې اصل نه هر تخلف د مجازات وړ جرم دی.

• د متهم د توقيف موده د محکمې له لوري ټاکل کېږي، دا موده په هيڅصورت کې تر دوو مياشتو نشي زياتېدی، مګر دا چې متهم

اعتراض حق لري او کولی شي خپل شکایت په لیکلي توګه ولسي جرګې ته وړاندي کړي، دا د ولسي جرګه دنده ده چي دا شکایتونه وڅېړي، له اړوند ادارو پوښتنه وکړي او شکایت کوونکو ته مناسب ځواب ورکړي.

- مطبوعات او خپروني د مطالبو د بیان آزادي لري په دې شرط چي د اسلام له لارښوونو او اصولو سره متصادم نه وي.
- د نشراتو، مطبعو، راډیو او ټلویزیون مربوط مقررات د ځانګړي قانون له لاري تنظیمېږي.

څلور دېرشمه ماده

د افغانستان اتباع حق لري د خپلو مشروع حقونو، غوښتنو او مقاصدو ترلاسه کولو لپاره ټولني او سیاسي ګوندونه جوړ کړي، په دې شرط چي:

- د ټولني او سیاسي ګوند اهداف، تګلاره او کړنلاره د اسلامي لارښوونو او د اساسي قانون د احکامو خلاف نه وي.
- تشکیلات او مالي مدارك ئې څرګند وي.
- نظامي فعالیتونه ونه لري.
- په بهرنیو کړیو پوري تړلي نه وي.
- قومي، ژبني، سمتي او مذهبي تعصباتو ته لمن ونه وهي او د افغانانو د ملي وحدت په ضد تحرکات ونه لري.
- هیڅوك نشي کولی لدې حق نه په استفادی سره د ملي یووالی د تضعیف، د هېواد د استقلال او خپلواکی د تهدید او د افغاني





ټولني اسلامي هویت ته د تاوان رسولو په لار کي ناوړه استفاده وکړي.

- یوازي هغه سیاسي ګوندونه په انتخاباتو کي برخه اخستی شي چي منتخبه شوری او منتخب مشر ولري.

پنځه دېرشمه ماده

- د افغانستان اتباع حق لري د خپلو مشروع غوښتنو د تأمین لپاره سوله ییزي او بې وسلې غونډې او مظاهرې وکړي.
- دولت مکلف دی داسې غونډو ته د قانون له غوښتنو سره سم اجازه ورکړي او امنیت ئې تأمین کړي.

شپږ دېرشمه ماده

هیڅ رسمي ګوند او ټولنه د جوړوونکو د اکثریت له پرېکړې او له قانوني موجباتو پرته نشي منحل کېدی.

د قانوني موجباتو پر بنسټ د دوی د انحلال پرېکړه د باصلاحیته محکمې دنده ده.

اوه دېرشمه ماده

- د اشخاصو تجسس حرام او د قانون ضد عمل دی، هیڅوك حق نلري د خلکو مراسلات او مخابرات، که دا د لیکونو په بڼه کي وي یا د مخابرې او ټیلفون له لاري وي، وڅاري، ولولي، واوري، بل ته ئې ووایي او استناد پرې وکړي.
- دولت د پېژندل شوو جنایتکارانو د مخنیوي لپاره یوازي هغه څه کولی شي چي شریعت ئې اجازه ورکوي او باصلاحیته محکمې

ئې پرېکړه کړې وي.

اته دېرشمه ماده

• دا قانون د شخصي استوګنځي حرمت تضمينوي، هيڅا ته د دولتي ادارو او چارواکو په شمول دا اجازه نه ورکوي چې د استوګن له اجازې او د شرعي محکمې له حکم نه پرته د چا کور ته ننوزي او يا ئې وپلټي.

• د مشهود جرم په حالت کې، د جنايت د مخنيوي او د مجرم د نيوني په اړه د مسئولو چارواکو دندي او صلاحيتونه په ځانګړي قانون کې توضيح کېږي.

نه دېرشمه ماده

• هر افغان حق لري چې د هېواد دننه سفر وکړي او په هر ځای کې چې غواړي استوګن شي.

• د هېواد هغه سيمي چې دولت ئې له موقتي يا دائمي استوګني نه مستثنی کوي، د قانون له مخې ټاکل کېږي.

• هر افغان حق لري چې د بهرنيو سفرونو د اړوند مقرراتو له غوښتنو سره سم بهر ته سفر وکړي او بېرته خپل هېواد ته راستون شي.

• د داسي سفرونو لپاره ضروري تسهيلات او اسناد برابرول او په بهر کې د افغانانو له حقوقو نه دفاع کول د دولت له دندو څخه دي.

څلوېښتمه ماده

په اسلامي نظام کې نېستمن وګړي د اغنياوو په شتمنيو کې ثابت





او مسلم حق لري، دا حق ترلاسه کول او دوی ته ئې سپارل د دولت دنده ده، دولت د دوی د ستونزو د حلولو متکفل دی، دولت داسي ماليه او محصول نشي وضعه کولی چې له نېستمنو نه د څه ترلاسه کولو رنګ ولري.

يو څلوېښتمه ماده

• دولت به د رسمي اسنادو بيه د هغه لګښت معادل ټاکي چې په طبعه او توزيع ئې لګوي.

• د تابعيت تذکرې، د ملکيتونو اسناد، عرض پاڼې، پاسپورت، ليسنس او نور رسمي اسناد د دولتي عوايدو مدرك نشي جوړېدی.

دوه څلوېښتمه ماده

• قانوني او مشروع ملکيت له تېري مصئون دی.

• هيڅوك له مشروع لارو د ملکيت له لاس ته راوړو او په هغه کې له جائز تصرف نه نشي منعه کېدی.

• د قانون له حکم او د باصلاحيته محکمې له پرېکړي پرته د هيڅا ملکيت نشي مصادره کېدی.

• هر ځمکه وال او شتمن مکلف دی چې د دولت له اړوند ادارو سره خپله شتمني او ملکيت ثبت کړي.

• دولت يوازې هغه مهال کولی شي په شخصي ملکيتونو کې تصرف وکړي چې دا تصرف د قانون مطابق وي، عامه مصالح ئې غوښتنه کوي او د ملکيت اصلي خاوند ته عادلانه معاوضه ورکړی شي.

دري څلوېښتمه ماده

- په افغانستان کي بهرنیان د عقاري اموالو د تملیك حق نه لري،
- د بهرنیانو له لوري د عقار اجاره د قانون مطابق ترسره کېږي.
- د بهرنیو هېوادو سیاسي دفاترو ته ځمکه د ځمکي په بدل کي ورکول کېږي.

څلورڅلوېښتمه ماده

- هر شتمن افغان مکلف دی چي دولت ته د خپلي شتمنۍ زکات او د ځمکي د حاصلاتو عشر ورکړي.
- دولت د زکات او عشر له مانعینو سره په شرعي چلند مکلف دی.
- هیڅ راز غیرقانوني مالیه او محصول نشي وضعه کېدی.

پنځه څلوېښتمه ماده

- زده کړه د ټولو نارینه او ښځینه افغانانو حق دی.
- ټولو زده کوونکو ته د ثانوي دورې تر پای پوري او نادارو زده کونکو ته د لیسانس مرحلې تر پایه د وړیا تعلیم ضروري تسهیلات د دولت له لوري برابرېږي.
- دولت مکلف دی چي د هېواد په ټولو سیمو کي د معارف د متوازني ودې او هر زده کوونکي ته په خپلي مورنۍ ژبي د تعلیم په موخه اغېزمن گامونه واخلي.

شپږ څلوېښتمه ماده

- افغانستان به یو تعلیمي نظام او واحد تعلیمي نصاب لري.
- تر ثانوي دورې پوري عام تعلیمي نصاب پلي کېږي چي په دې





کي به د دیني او ورځني علومو دومره برخه شامله وي چي هر مسلمان ورته ضرورت لري.

- د واحد تعلیمي نصاب موخه دا ده چي له یوې خوا د فکري تشتت او مذهبي اختلافاتو مخنیوی وشي، له بلي خوا ځوان نسل په دیني علومو سمبال او د اوسني عصر له علمي زېرمو نه د اعظمي استفادې جوگه شي.
- د تخصص دوره د ثانوي دورې په پای کي پیل کېږي.

اوه څلوېښتمه ماده

- د تعلیمي مراکزو تأسیس او اداره د دولت دنده ده.
- دولت کولی شي د هېواد اتباعو ته د خصوصي تعلیمي مؤسساتو د جوړولو اجازه ورکړي، مشروط په دې چي د هېواد رسمي تعلیمي نصاب پلي کړي.
- هیڅ بهرنی هېواد په افغانستان کي د افغانانو لپاره تعلیمي مؤسسات نشي جوړولی.
- د لوړو زده کړو په دولتي مؤسساتو کي د شاملېدو مقررات په ځانگړي قانون کي توضیح کېږي، د دې مقرراتو له مخي هغه څوك بریالی گڼل کېږي چي د آزمویني نمرې ئې له ۴۰% زیاتي وي، د بریا د نمرې په سلو کې دېرش د کانکور د آزمویني نتایج او په سلو کي اویا ئې د ثانوي دورې د ټولو آزموینو د نتائجو اوسط جوړوي.

اته څلوېښتمه ماده

دولت مکلف دی چي په هېواد کي د بې سوادۍ د ختمولو لپاره

ځانګړي مؤثر اقدامات وکړي.

نه څلوېښتمه ماده

دولت د علمي، فرهنګي، ادبي او هنري فعالیتونو د پراختیا او ارتقا لپاره اغېزمن اقدامات کوي، په دې برخو کې لګیا افرادو او ټولنو ته د کار مناسب شرایط برابروي او د دوی حقوق تضمینوي.

پنځوسمه ماده

• کار، د کار د ډول انتخاب او د کار په بدل کې دومره معاوضه ترلاسه کول چې د کارګر حیاتي اړتیاوي تأمین کړي د هر افغان تبعه مسلم حق دی.

• د کارګر حقوق، د رسمي کار اوقات او موده، با معاشه رخصتي او نور اړوند چاري د کار په ځانګړي قانون کې توضیح کېږي.

• بېګار او په زور او له معاوضې پرته کار ته اړ کول ممنوع دي. د جګړي او عامه آفتونو په دوران کې نفیر عام او اجباري کار له دې مستثنی دي.

• د دولت د ټیټ پوړي مامور او موظف معاش به دومره وي چې د یوې متوسطې کورنۍ لپاره کافي وګڼل شي او د لوړ پوړي مامور او موظف معاش د دې مقدار له اوه برابره نشي زیاتېدی.

• هغه ماشومان چې بلوغ ته نه وي رسېدلي د کار لپاره نشي استخدامېدی.

یو پنځوسمه ماده

• په اسلامي دولت کې اداري د ولس په خدمت کې او چارواکي د





ولس خدمتګاران دي، ټول اداري اجراءات به په دغه بنسټ ولاړ وي، هیڅوک په هیڅ اداري مقام کې له ولس سره د حاکم، واکدار او بادار په څېر چلند نشي کولی.

• د شوری اسلامي اصل به د هېواد په ټولو تشکیلاتو، ادارو، مؤسساتو او شرکتونو کې مراعات کېږي، په دې موخه به په هره برخه کې داسي شوراګاني جوړېږي چې چاري ئې د اړوند مسئولینو او غړو تر منځ د مشورې او تفاهم له لاري پر مخ لاړي شي.

• ولس حق لري له دولتي ادارو او چارواکو شکایت وکړي او دولت مکلف دی هغه چارواکي عزل کړي چې په خپلو دندو کې اهمال کوي.

• د افغانستان هر تبعه کولی شي د دولتي ادارو له اجراءاتو ځان خبر کړي او د اړتیا وړ اطلاعات ترلاسه کړي، دا حق د نورو وګړو حقوقو او عامه امنیت ته له تاوان رسولوپرته بل قید او شرط نه مني.

• د هېواد اتباع یوازي د اهلیت، کفایت، امانت او دیني فرایضو ته التزام له مخې په دندو ګمارل کېږي.

• دولتي اداري د اړتیا له مخې او د دولت مالي توان ته په پام سره جوړېږي، که له یوې خوا دې ته توجه کېږي چې په هېواد کې د یوه مضبوط نظام غوښتني تأمین شي له بلې خوا به دا په پام کې وي چې بې ځایه اداري تورم رامنځته نشي او دولتي امکانات د تولیدي چارو او د ولس اړتیاوو ته د ځواب ویلو په ځای په براخو بې

ضرورت ته ادارو مصرف نشي .

دوه پنځوسمه ماده

- له اداراتو زيانمن شوي وګړي محکمې ته د مراجعې او د زيان د جبران حق لري.
- دولتي ادارې هم له وګړو سره خپلې حقوقي منازعې يوازې د محکمې له لارې حل کولی شي.

دري پنځوسمه ماده

د وګړو روغتيا او صحت ته پاملرنه، د کافي صحي پرسونل روزنه، د روغتونونو او کتنځيو جوړول، پالل او اکمالول او د دوا درمل د تسهيلاتو برابرول د دولت له مهمو دندو څخه دي، دولت به دې برخي ته خاصه توجه کوي او مناسبه بودجه به ورته ټاکي، خو دا هڅې تر هغه په زړه پوري نتيجه نشي ورکولی او د ناروغيو د خوړېدو مخه نشي نيولی چې د فقر د معالجې لپاره متوازنه هڅه ونشي. فقر د اخلاقي او اجتماعي مفاسدو ترڅنګ د ناروغتيا او رنځ د خوړېدو ستر عامل دی. دولت په دې مکلف دی چې د دغو هڅو ترڅنګ د خلکو د اقتصادي ستونزو د حل او د ولس د ژوندانه د سطحې لوړولو لپاره اغېزمن ګامونه واخلي.

- پداسې حال کې چې هر ډاکټر مکلف دی په رسمي اوقاتو کې په دولتي طبي مراکزو او ادارو کې کار وکړي، دولت کولی شي د ځانګړي قانون په محدوده کې د خصوصي طبي مرکزونو د جوړېدو اجازه ورکړي.





څلور پنځوسمه ماده

دولت د سالمو بدني لوبو ودې ته پاملرنه کوي، ځوانان ورته هڅوي، لازم تسهيلات ورته برابروي او د دې مخنيوي کوي چې بدني لوبې په تجارتي مشغلو بدلې شي.

اپنځه پنځوسمه ماده

د شهيدانو او مفقودينو له پاتې بې وزلو خپلوانو (کونډو او يتيمانو) او د آزادۍ د جنګ له ايثارګرانو (معلولينو) سره مرستې د دولت په وجايبو کې شاملې دي.

شپږ پنځوسمه ماده

دولت د متقاعدينو حقوق تضمينوي او له بې وزلو زړو او بې متولي يتيمانو سره مرسته کوي.

اوه پنځوسمه ماده

- په اسلامي نظام کې کورنۍ د ټولني اساسي بنسټ جوړوي، اسلام د ټولني سلامتيا د دې بنسټ په سلامتيا پوري تړلې ګڼي او تخريب ئې د شيطان تر ټولو ستر هدف بولي، دولت په ټول توان طاقت د دې هڅه کوي چې د افغاني ټولني دا بنسټ مضبوط، مضمون او خوندي وي، خلګ د جنسي اړيکو قانوني کولو او د پاکيزه کورنيو جوړولو ته هڅوي او د غيرقانوني جنسي اړيکو په کلکه مخنيوی کوي.
- کورنۍ په شرعي نکاح سره جوړېږي، نکاح د نارينه او ښځې تر منځ د هغه قانوني تړون نوم دی چې:د دواړو په رضايت، د ګډ

دوامدار ژوند په موخه، مېرمني ته د هغې د خوښې مهر په منلو او د شاهدانو په وړاندي ترسره کېږي.

- نارينه د کورنۍ قيم او د اړتياوو متکفل دی، د کورنۍ چاري د دواړو په مشوره او رضايت ترسره کېږي.
- مهر د مېرمني مسلم حق او د دې د راتلونکې د تضمين لپاره ډاډمنه ذريعه ده. دا حق نه څوك ترې سلبولی شي او نه محدودولی.
- موقته نکاح، په زور او جبر تحميل شوې نکاح او د شاهدانو له شته والي پرته نکاح هيڅ اعتبار نلري.
- دا تړون د دواړو په موافقه، د مېړه په پرېکړې او د مېرمني په غوښتني سره د قانون مطابق فسخه کېدی شي.
- د مېرمني د غوښتني په حالت کي د نکاح د فسخي لپاره د مېړه موافقه يا د محکمې حکم ضروري بلل کېږي.
- که د مېړه د پرېکړې له مخي وي د مهر د استرداد حق نلري او که د مېرمني د غوښتني په وجه وي مهر مسترد کېږي، مگر دا چي مېړه په خوښه ترې تېر شي.
- د مړيني په صورت کي يو د بل په شتمنيو کي ثابته برخه په مېراث وړي، د مېراث برخي د هر چا د اقتصادي مکلفيتونو له مخي ټاکل شوې.

اته پنځوسمه ماده

- له هېواد څخه دفاع د ټولو افغانانو وجيبه ده.
- ښځي په جگړو کي له برخي اخستو معاف دي مگر د نفير عام په





حالت کي او هغه مهال چي پر هېواد تېری کېږي او د دښمن په شا تمبول په جگړې کي د ټولو اتباعو د برخي اخيستو غوښتنه وکړي.

- د عسکري مکلفيت دوره د يو نيم کال لپاره ده.
- ټول نارينه افغانان له شل کلنۍ نه تر پنځه څلوېښت کلنۍ پوري د مکلفيت دا دوره تېروي.
- ښځي له دې مکلفيت نه معاف دي.
- متأهل عسکر په هرو څلورو مياشتو کي د دوو اونيو رخصتي حق لري.
- هيڅ عسکر، پوليس او مامور د شخصي خدمت لپاره نشي استخدامېدی.
- د اردو او پوليس له غړو او تجهيزاتو نه هرډول شخصي استفاده ممنوع ده.
- په زده کړو بوخت افغانان به د عالي تحصيلاتو په پای کي د يوه کال لپاره د عسکري مکلفيت دوره تېروي
- دې ته ترجيح ورکول کېږي چي هر افغان د عسکري مکلفيت دوره په خپل ولايت کي بشپړه کړي.
- د افغانستان اردو بايد په حقيقي معنی يو اسلامي اردو وي، د اردو په ليکو کي بايد داسي خلك تنظيم او استخدام شي چي اسلام ته متعهد او له خپل دين او هېواد نه د دفاع لپاره قربانۍ ته چمتو وي.
- دولت کولی شي د صلحي په حالت کي د اردو له افرادي قوت او

فني تجهيزاتو نه د هېواد د ودانولو په چارو کي کار واخلي.

نه پنځوسمه ماده

د شرعي حدودو مراعات، د اساسي قانون متابعت او د عامه امن او نظم ساتنه د ټولو افغانانو وجيبه ده، له حدودو او قوانينو څخه بې خبري عذر نه ګڼل کېږي.



د اسلامي دولت اساسي قانون

# دريیم فصل
# ولسمشر

شپېتمه ماده

- د افغانستان اسلامي دولت چي له مقننه، قضائيه او اجرائيه قواوو جوړ شوی، يو عمومي مشر لري چي ولسمشر نومېږي، ولسمشر د ملت د مستقيمې رأيي له لاري غوره کېږي، د ملت په وړاندي مسئول دی او په ټولو برخو کي خپلي دندي د قانون مطابق ترسره کوي.
- ولسمشر به د وزيرانو شوری غړي، د ولسمشر د مرستيال په شمول ولسي جرګي ته وړانده‌ي کوي چي د اعتماد رأيه ترلاسه کړي.
- د ولسمشرۍ دوره د ولسمشر د انتخاب له ورځي پيل او د پنځم کال په پای کي په هغي ورځي بشپړه کېږي چي راتلونکي منتخب ولسمشر وټاکل شي.
- نوی منخب ولسمشر به د مخکنۍ دورې له ختمېدو دوه مياشتي مخکي غوره کېږي.
- د وزيرانو مخکنۍ شورى (کابينه) تر هغه خپل کار ته دوام ورکولی شي چي نوی ولسمشر ئې ضروري ګڼي او يا د وزيرانو نوې

شوری له ولسي جرگې د اعتماد رأیه ترلاسه کړي.

یوشپېتمه ماده

- ولسمشر د آزادو، مستقیمو او سري انتخاباتو له لاري غوره کېږي، هغه څوك د دولت منخب رئیس گڼل کېږي چي ده او د ده حامي ډلي یا مجموعې ته د رأی ورکوونکو تر ۵۰% زیاتو خلکو رأیه ورکړې وي.
- که د انتخاباتو په لومړي پړاو کي هیچا تر ۵۰% کي زیاتي رأیي ترلاسه نکړې، یا به هغه ډلي چي له ۷ % کمي رأیي ئې ترلاسه کړې منحل او له نورو سره په یوځای کېدو مکلف کېږي او په دې توگه به کامیاب کاندید غوره کېږي او یا به بیا انتخابات ترسره کېږي، په دوهم ځل انتخاباتو کي یوازي دوه ستري ډلي برخه اخیستی شي،
- دوهم ځل انتخابات به د نتایجو له اعلانه وروسته د دوو اونیو په منځ کي ترسره کېږي.
- که د ولسمشرۍ لپاره د دوو اساسي کاندیدانو نه څوك د رأیي اچوني په دوران کي یا له انتخابېدو ورسته مري، د قانون له حکم سره سم به دوهم ځل انتخابات ترسره کېږي.

دوه شپېتمه ماده

- د انتخاباتو د اجراء لپاره ځانگړې باصلاحیته اداره جوړېږي، تأسیس، ترکیب او صلاحیتونه ئې په اړوند قانون کي توضیح کېږي.
- ټول انتخابات به د همدې ادارې تر اشراف لاندي ترسره کېږي.





دري شپېتمه ماده

هغه څوك د ولسمشر په توگه غوره کېدی شي چي لاندي مواصفات ولري:

- د افغانستان تبعه او مسلمان او د کاندېدېدو پر مهال ئې عمر له څلوېښتو کلونو اوښتی وي.
- د بل هېواد تابعیت ونلري.
- د محکمې له لوري په جنایت، فسق او کبیره گناه نه وي محکوم شوی.
- د دیني فرایضو ادا کولو ته التزام لري او په ماانزل الله حکم کولو ته متعهد وي.

دا شرایط د ولسمشر د مرستیال او د وزیرانو د شوری د غړو په اړه هم مراعات کېږي.

هیڅوك تر دوو دورو زیات ولسمشر کېدی نشي.

څلورشپېتمه ماده

ولسمشر د دندي له پیل نه مخکي د تحلیف ټاکلي قانوني مراسم په ځای کوي او په دغو الفاظو لوړه کوي:

د الله تعالی په نامه لوړه کوم چي په خپل شخصي او اجتماعي ژوند کي به د اسلامي احکامو متابعت کوم، په ماانزل الله به حکم کوم، په ملي شتمنیو او د خلکو له لوري راکړي صلاحتونو کي به په پوره احتیاط او امانت سره تصرف کوم، د افغانستان د خپلواکۍ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه، د ولس د حقوقو او گټو حفاظت

او د قانون رعایت او تطبیق به خپله اساسي دنده گڼم او هڅه به کوم چي د الله تعالی په مرسته او د ملت په ملاتړ د هېواد د پرمختگ او د خلگو د هوسایۍ په لار کي اغېزمن گامونه واخلم او پدې اړه خپل مسئولیتونه ادا کړم. والله علی ما اقول وکیل

پنځه شپېتمه ماده

ولسمشر لاندي صلاحتونه او وظائف لري:

- د اساسي قانون د تنفیذ د چارو مراقبت او ممارست
- د دولت د داخلي او خارجي سیاست اساسي کرښي ټاکل او ولسي جرگې ته د غور او موافقې لپاره وړاندي کول.
- د دولت کلنۍ بودجه ټاکل او د منظوري لپاره ولسي جرگې ته سپارل
- د قانون مطابق او د ولسي جرگې په موافقه د قاضی القضات او د ستري محکمې د غړو ټاکل.
- خپل مرستیال، د وزیرانو د شوری غړي او د لوی څارنوال ټاکل، ولسي جرگې ته د اعتماد د رأیي لپاره وړاندي کول او د دوی عزل او استعفا منل.
- د هېواد د مسلح ځواکونو اعلی قیادت.
- د ولسي جرگې په موافقې د جگړې او متارکې اعلان
- د ولسي جرگې د غونډو پرانستل
- د ولسي جرگې په مشوره د اضطراري حالت د پیل او پای اعلان
- د قانون له حکمونو سره سم د قاضیانو، د وسله والو ځواکونو،





پولیسو، ملي امنیت او د دولت د نورو ادارو د لوړ پوړو افسرانو او مامورینو توظیف، عزل، تقاعد او استعفی منل.

- په بهرنیو هېوادو کي د افغانستان د سیاسي هیئتونو رئیسان او په بین المللي ټولنو کي د افغانستان دائمي استازي ټاکل او د نورو هېوادو د سیاسي هیئتونو د رؤساوو باورلیك منل.
- د ملي وحدت استحکام او د هېواد د خپلواکۍ، استقلال او اسلامي هویت ساتنه او تمثیل.
- د شریعت مطابق او له مقرراتو سره سم د تعزیري سزاگانو تخفبف یا لغوه .
- د قوانینو او مقرراتو توشیح او د هېواد له قوانینو سره سم د بین المللي معاهدو امضاء.
- ولسمشر کولی شي د خپلو صلاحیتونو ځیني برخي خپل مرستیال یا نورو قانوني مراجعو ته انتقال کړي
- د قانون له غوښتنو سره سم د افتخاري نښانونو او لقبونو اعطاء
- د ولسي جرگې په موافقه د مرکزي بانك رئیس ټاکل.
- په ټولو اداري او اجرائي چارو کي د شریعت او قانون په نسبت التزام
- د ولسمشر او ولسي جرگې تر منځ اختلافي قضایا قانون ساتې شوری ته محول کېږي.
- ولسمشر کولی شي د ستري شوری د دوه ثلثه غړو په موافقې ولسي جرگه منحل کړي.

- ستره شورى په دوه ثلثه رايو سره كولى شي ولسمشر عزل كړي، دا شورى د ولسمشر په غوښتنه، د يو ثلث غړو په غوښتنه او د ولسي جرگې د د دوه ثلثه غړو په غوښتنه دائرېدى شي.
- ولسمشر د ستري شورى په موافقه كولى شي د مهمو ملي قضاياوو په اړه د ټولپوښتني پرېكړه وكړي؛ مشروط په دې چې له اساسي قانون سره تعارض ونلري او په هغه كي د تعديل غوښتنه ونكړي.
- ولسمشر نشي كولى چي د قانون او عدالت خلاف د دولتي ملكيتونو د پلورلو او بخښلو پرېكړه وكړي، هر افغان حق لري داسي پرېكړي ستري محكمې ته راجع كړي.
- د پاتې هغو صلاحيتونو ممارست چي قانون په گوته كړي.
- د ولسمشر د وفات، استعفى او په صعب العلاجه ناروغىِ د اخته كېدو په صورت كي به د ده مرستيال د ده ځاى ناستى وي چي د نوي ولسمشر تر ټاكني به د چارو نيابت كوي، خو د ولسمشر د عزل په صورت كي به د ولسي جرگې رئيس موقت ځاى ناستى ټاكل كېږي. د صعب العلاجه ناروغىِ تثبيت د سترې محكمې لخوا د ټاكل شوي صحي هيئت له لوري ترسره كېږي.

موقت ولسمشر لاندي اجراءات نشي كولى:

۱. د وزيرانو، وسله والو ځواكونو د قومندانانو، د ستري محكمي د غړو، د لوى څارنوال ، د پوليسو او ملي امنيت د لوړپوړو افسرانو عزل





۲. ټول پوښتنه

شپږشپېتمه ماده

د ولسمشر او د هغه د مرستيال د يوځايي مړيني په صورت كي د ولسي جرگې رئيس، د ستري محكمي رئيس او لوى څارنوال په ترتيب سره د موقت ولسمشر په توگه غوره كېږي.

اوه شپېتمه ماده

د ولسمشر معاش او مصارف د قانون له مخي ټاكل كېږي.

اته شپېتمه ماده

ولسمشر د نورو دولتي مامورينو په څېر د تقاعد په دوران كي د خپل قانوني معاش معينه برخه ترلاسه كوي، په استثنى د هغه حالت چي عزل شي.

# ثلورم فصل
# حکومت

نه شپېتمه ماده

- حکومت د هېواد اجرائیه قوه ده چي د وزیرانو عالي هیئت ئې تمثیلوي، ولسمشر د دې هیئت رئیس دی، د دې هیئت د غړو شمېر له اوه لسو نه زیاتېږي.
- وزیران د ولسمشر لخوا ولسي جرگې ته د تأیید لپاره معرفي کېږي او هغه مهال د وزیر په توگه خپله دنده پیل کوي چي د اعتماد رأیه ترلاسه کړي.
- د وزیرانو دندې او صلاحیتونه د قانون له مخې ټاکل کېږي.

اویایمه ماده

هغه څوك د وزیر په توگه ټاکل کېدی شي چي:

١. د افغانستان تبعه، متأهل او عمر ئې تر پنځه دېرشو لږ نه وي.
٢. تحصیل، کاري تجربه او نېك شهرت ولري.
٣. د محکمې لخوا په خیانت، فسق او بشري جرم نه وي محکوم شوی





یواویایمه ماده

د وزیرانو ټاکنه په ولسي جرگې کي د دوی په عضویت او عدم عضویت پوري مشروط نده، خو که د ولسي جرگې کوم غړی د وزیر په توگه غوره کېږي، په ولسي جرگې کي خپل عضویت له لاسه ورکوي، د ده په ځای به بل څوك د قانون له حکم سره سم د جرگې غړی ټاکل کېږي.

دو اویایمه ماده

وزیران د خپلو وظایفو له پیل نه مخکي د ولسمشر په وړاندي په دغو الفاظو لوړه کوي:

د الله تعالی په نامه لوړه کوم چي په خپل شخصي او اجتماعي ژوند کي به د اسلامي احکامو متابعت کوم، په ملي شتمنیو او د قانون له مخي راکړ شوو صلاحتونو کي به په پوره احتیاط او امانت سره تصرف کوم، د ولس د حقوقو او گټو حفاظت او د قانون رعایت او تطبیق به خپله اساسي دنده گڼم او هڅه به کوم چي د الله تعالی په مرسته د هېواد د پرمختگ او د خلگو د هوسایۍ په لار کي اغېزمن گامونه واخلم او پدې اړه خپل مسئولیتونه ادا کړم. والله علی ما اقول وکیل

دري اویایمه ماده

د حکومت وظایف او صلاحیتونه په دې توگه دي:

١. د قانون، مقرراتو او د محکمو د قطعي پرېکړو عملي کول
٢. د هېواد له خپلواکۍ، ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او

اسلامي هويت نه دفاع او په نړيواله ټولنه کي د افغانستان د حيثيت او عزت ساتنه.

۳. د هېواد کلنۍ بودجه ترتيبول، د مالي چارو اداره، د هېواد د اقتصادي انکشاف لپاره مناسب تصاميم نيول، له ټولو مالي زېرمو نه پدې اړه سمه استفاده کول او ډاډمن او با اعتباره مالي نظام رامنځته کول.

۴. د عامه نظم او امن تأمينول

۵. د اداري فساد، اختلاس، رشوت او په ملي شتمنيو کي د خيانت مخنيوی

۶. د ژوند په ټولو برخو کي د هېواد د سالم او رغنده انکشاف لپاره مناسبي طرحي جوړول او تطبيقول

۷. ولسي جرګې ته د هر تېرکال د اجراءاتو او د راتلونکي کال د مهمو منصوبو په اړه مفصل معلومات ورکول.

۸. د اساسي قانون په رڼا کي د هېواد د کورني او بهرني سياست د اساسي کرښو تثبيت او د خپلو وظايفو او مسئوليتونو د سرته رسولو او ټاکلو اهدافو ته د رسېدو لپاره د قانون په محدوده کي ضروري مقررات او لوايح وضعه کول.

ځلور اويايمه ماده

وزيران د خپلو ټاکلو دندو او اجراءاتو په اړه د ولسمشر او ولسي جرګې په وړاندي مسئوليت لري.





پنځه اويايمه ماده

وزيران د نورو خلکو په څېر د جرم او خيانت په صورت کي په شته محکمو کي د قانون مطابق محاکمه او مجازات کېږي.

شپږاويايمه ماده

حکومت کولی شي په عاجلو حالاتو او د ولسي جرګې د تعطيل پر مهال په هغو مواردو کي تقنيني مقررات منظور کړي چي په اړه ئې واضح قانون او لايحه نشته، دا مقررات به د ولسي جرګې په لومړۍ غونډې کي د بحث لپاره وړاندي کېږي، د جرګې د عدم موافقې په صورت کي خپل اعتبار له لاسه ورکوي.

اوه اويايمه ماده

- وزيران او د دولت نور چارواکي له يوه نه زيات رسمي اداري مأموريت نشي درلودی. په روزنيزو او تحقيقاتي مؤسساتو کي د غړو په توګه کار کول له دې حکم نه مستثنی دی .
- وزيران او د دولت نور لوړ پوړي مامورين نشي کولی د خپل ماموريت په دوران کي په شخصي تجارتي او اقتصادي دندو بوخت شي، له دولت يا خصوصي شرکتونو سره د پېر پلور معامله وکړي، هديه او تحفه ترلاسه کړي.

# پنځم فصل
# ولسي جرګه

اته اویایمه ماده

- د افغانستان اسلامي دولت شورایي نظام لري، په دې نظام کې دولت له ولس سره په مشوره مکلف دی، ولسي جرګه د افغان ولس استازې، د ملت د ارادې او غوښتنو ممثله او تر ټولو لوړه او باصلاحیته یوازینۍ تقنیني مرجع ده.
- د دې جرګې هر غړی د ټول ملت استازی دئ نه د یوه قوم، سیمې او ډلې استازی، نه په دې جرګې کې انتصابي غړی شته او نه ئې په څنګ کې بله تقنیني مرجع.

نه اویایمه ماده

- ولسي جرګه ۲۱۱ منتخب غړي لري چې د ولس له لوري د پنځو کلونو لپاره د آزادو انتخاباتو له لارې غوره کېږي.
- د هر غړي د انتخاب لپاره د رأیو د شمېر نصاب د ټولو ورکړ شویو رایو دوه سوه یولسمه برخه ده.
- د انتخاباتو طریقه داسې غوره کېږي چې په صندوقونو کې اچول





شوې هیڅ قانوني رأیه بې اغېز پاتې نشي، په ولسي جرګې کې استازی ولري او د انګرېزي انتخاباتو په څېر نه وي چې قمار ته ورته دي او ناکامو کاندیدانو ته د رأیې ورکولو په وجه ډېر خلك په شورى کې د استازي له درلودو محروم شي.

- د ولسي جرګې د هرې دورې له پای نه دوه میاشتې مخکې نوي انتخابات ترسره کېږي.

اتیایمه ماده

- د ولسي جرګې او ولسمشر لپاره انتخابات هممهاله او یو ځای ترسره کېږي.
- ټول هېواد د یوې انتخاباتي حوزې په توګه منل کېږي.
- هر مستحق افغان په هرځای کې رأیه ورکولی شي، هیڅوك د رأیې اچونې لپاره خاصې انتخاباتي حوزې ته په تلو نه مکلف کېږي.
- رأیه یوه شخص ته نه بلکې یوې داسې انتخاباتي مجموعې ته ورکول کېږي چې د ولسمشرۍ او ولسي جرګې لپاره ئې خپل غړي کاندید کړي او خپله تګلاره ئې ولس ته اعلان کړې.
- د لاس ته راوړو آراوو په تناسب به د هرې ډلې د بریالیو غړو شمېر ټاکل کېږي او په اعلان شوي فهرست کې به د دوی د نومونو د ترتیب له مخې غوره کېږي.
- کومې ډلې چې په سلو کې تر پنځوس زیاتې رأیې ترلاسه کړې؛ د ولسمشرۍ لپاره د دې ډلې کاندید به بریالی منتخب مشر اعلانېږي او د همدې ډلې له اعلان شوي فهرست نه به د ولسي جرګې لپاره تر

۵۰٪ زيات غړي غوره کېږي.

• دا پرېکړه به د انتخاباتو مستقله اداره کوي چي مجموعي کارول شوو آراوو او د ولسي جرګې د غړو شمېر ته په پام سره د هر کانديد د بریالیتوب لپاره څو رأيي ضروري ګڼل کېږي.

يو اتيايمه ماده

د ولسي جرګې لپاره د نومول شووو مواصفات دا دي:

۱. افغان وي يا لږ ترلږه تر انتخابېدو لس کاله د مخه ئې د افغانستان تابعيت ترلاسه کړی وي.

۲. د باصلاحيته محکمې له لوري په فساد، فسق او خيانت نه وي محکوم شوی

۳. عمر ئې تر پنځه وېشتو کلونو کم نه وي.

دو اتيايمه ماده

د ولسي جرګې هر غړی له هغه وروسته د منتخب غړي په توګه په غونډو کي د برخي اخستو حق ترلاسه کوي چي په دغو الفاظو لوړه وکړي: د الله تعالی په نامه لوړه کوم چي اسلامي شريعت ته التزام، د هېواد اساسي قانون ته درناوی، د ولس له حقوقو نه دفاع، د ملت له لوري راسپارل شوې دنده په امانت او تقوی ترسره کول، په خپلو ويناوو، ليکنو او اظهاراتو کي د يوه امين وکيل په توګه عمل کول او د هېواد او ولس ګټي په پام کي نيول خپلي شرعي دندي ګڼم او په ټول صداقت او اخلاص سره ئې د ادا کولو هڅه کوم. والله علی ما اقول وکيل.





• ولسي جرګه د کار په پيل کي د يوې بشپړي دورې لپاره خپل رئيس، د هغه لومړی او دوهم نائب، منشي او نائب ئې د رأيو په اکثريت غوره کوي.

• د دې اداري هيئت وظايف او صلاحيتونه د جرګې د داخلي وظايفو په لايحې کي توضيح کېږي.

دري اتيايمه ماده

• ولسي جرګه کولی شي د داخلي وظايفو له لايحې سره سم د پوښتني، څېړني، نظارت او د پرېکړو د مسودو جوړولو لپاره ثابت او موقت هيئتونه وټاکي.

• د جرګې يو ثلث غړي کولی شي د حکومت د اجراءاتو د څېړني او مطالعې لپاره د فوق العاده هيئت ټاکلو غوښتنه وکړي.

• د دې هيئتونو د جوړښت څرنګوالی، وظايف او صلاحيتونه د داخلي لايحې په ترڅ کي توضيح کېږي

څلور اتيايمه ماده

د ولسي جرګې صاحيتونه دا دي:

۱- د قوانينو، مقرراتو او لوايحو تصويب، تعديل او لغو.

۲- د دولت د بودجې او تګلاري تصويب

۳- د اداري واحدونو تصويب، تعديل او لغو

۴- د بين المللي ميثاقونو او له نورو هېوادو سره د معاهدو توثيق او فسخه کول

۵- د وزيرانو شورى ته د اعتماد رأيه او له وزيرانو سلب اعتماد

۲- په دې اساسي قانون کې نور مندرج صلاحیتونه..

پنځه اتیایمه ماده

- ولسي جرګه د هېواد د ټولو چارو په اړه د څېړنې او تحقیق حق لري.
- ولسي جرګه کولی شي د غړو د لسمي برخي په وړاندیز هر وزیر استیضاح ته حاضر کړي. که د وزیر وضاحت ناقص ومومي کولی شي هغه سلب اعتماد کړي.
- د سلب اعتماد لپاره د اکثریت رأیه اعتبار لري.

شپږ اتیایمه ماده

د ولسي جرګې اړوند هیئتونه کولی شي له وزیرانو نه د دوی د اجراءاتو په اړه مخامخ یا تحریري پوښتني وکړي. وزیران دې پوښتنو ته په ځواب ویلو مکلف دي.

اوه اتیایمه ماده

- د ولسي جرګې له لوري تصویب شوي قوانین له هغه وروسته د نافذالاجراء قوانینو بڼه غوره کوي چې ولسمشر ئې توشیح کړي.
- که ولسمشر له مصوبې سره توافق ونلري د دوو اونیو په منځ کې به ئې له خپلو دلایلو سره ولسي جرګې ته راجع کوي، د دې مودې په تېرېدو یا د ولسي جرګې له لوري یو ځل بیا تر مخکې په زیاتو رایو تصویبېدو سره توشیح شوې او نافذالاجراء ګڼل کېږي.

اته اتیایمه ماده

- د ولسي جرګې غړي، حکومت او ستره محکمه کولی شي د





قانون په اړه خپلي طرحي او وړاندیزونه ولسي جرګې ته وړاندي کړي. د جرګې د لسو غړو لخوا وړاندي شوې طرحه په هغه صورت کي تر فوري بحث لاندي نیول کېږي چې د جرګې پنځمه برخه ئې ملاتړ وکړي.

- د بودجې او مالي چارو اړوند قانوني طرحي او وړاندیزونه به یوازي د حکومت له لوري وي. خو دولت مکلف دئ چې د وړاندي شوې بودجې په ضمن کي د عوایدو قانوني او شرعي مدارك په ګوته کړي.
- دولت نشي کولی د پیسو (بانك نوټونو) د اضافي چاپ او یا په سود د پور اخستو له لاري د بودجې کسر جبیره کړي.
- داخلي او خارجي قرضه یا بلاعوضه مرسته ترلاسه کول باید د ولسي جرګې په موافقې ترسره شي.
- ولسي جرګه کولی شي له بلاسود پور سره په دې شرط توافق وکړي چې د پور ورکوونکي د موخي په اړه ډاډه شي او د بېرته تأدیې معقول مدارك ئې وښودل شي.

نه اتیایمه ماده

ولسي جرګه د غور او بحث لپاره د حکومت لخوا وړاندي شوو عاجلو طرحو ته د لومړیتوب حق ورکوي، دا پداسي حال کي چې د حکومت هره وړاندي شوې طرحه به د یوې میاشتي په منځ کي څېړي او وروستۍ پرېکړه به صادروي.

نوي يمه ماده

- د جرگې غړی د خپلي قانوني دندي د اجراء په دوران کي د خپلي رأيي په وجه تر عدلي تعقيب لاندي نه راځي.
- له قانون نه د تخلف او د جرم د ارتکاب په صورت کي جرگې ته له اطلاع وروسته له عدلي تعقيب سره مخامخېدی شي.
- د مشهود جرم په صورت کي اړوند اداره کولی شي هغه د قانون له غوښتنو سره سم ونيسي او جرگې ته اطلاع ورکړي.
- د جرگې د تعطيل په دوران کي دا اطلاع د جرگې اداري هيئت ته ورکول کېږي او موضوع د جرگې راتلونکې لومړنۍ غونډې ته وړاندي کېږي.

يو نوي يمه ماده

وزيران د ولسي جرگې په غونډو کي برخه اخستی شي او جرگه کولی شي هغوی خپلي غونډې ته راوبلي.

دوه نوي يمه ماده

- حکومت د روان کال په وروستۍ څلورمي کي د نوي مالي کال بودجه د تېر کال له اجمالي حسابونو سره يوځای ولسي جرگې ته وړاندي کوي او بشپړ حساب د راتلونکي کال په لومړۍ څلورمي کي وړاندي کوي.
- که د نوي مالي کال بودجه د کال له پيله مخکي تصويب نشي د بودجې تر تصويب پوري د مخکنۍ بودجې له مخي اجراءات کېږي.
- ولسي جرگه به بودجه د يوې مياشتي دننه تصويبوي او له بانک



د اسلامي دولت اساسي قانون

نه د پور اخستلو او اداراتو ته د پور ورکولو وړانديز په پنځلو ورځو کي، که ولسي جرگه په دې مودې کي دا کار ونکړي وړانديزونه تصويب شوی گڼل کېږي.

دري نوي يمه ماده

- د ولسي جرگې غونډې علني دي، مگر دا چي د جرگې لسمه برخه ئې د سري والي غوښتنه او د جرگې اکثريت ورسره موافقه وکړي
- هر څوك د ولسي جرگې ودانۍ ته د داخلېدو په مقرراتو ملزم او مکلف دی

څلور نوي يمه ماده

د ولسي جرگې د غونډو نصاب د ټولو غړو دوه ثلثه او د پرېکړو نصاب ئې د حاضرو غړو اکثريت دی، په استثنی د هغو مواردو کي چي په اساسي قانون کي بل ډول ښودل شوي

پنځه نوي يمه ماده

- ولسي جرگه په کال کي دوه عادي غونډې لري، د عادي غونډو د کار مجموعي موده نه مياشتي ده، د اړتيا په صورت کي جرگه په خپله يا د ولسمشر په غوښتنه کولی شي د کار موده تمديد کړي.
- د ولسي جرگې فوق العاده غونډې په لاندي صورتونو کي دائرېدی شي:
  - کله چي ولسمشر ئې ضرورت تشخيص کړي
  - د ولسي جرگې يو ثلث غړي ئې مطالبه وکړي

شپږنوي يمه ماده

د ولسي جرگې د غړي د مړيني، استعفی، عزل او صعب العلاجه بيماری په صورت کي د پاتې مودې لپاره نوی استازی د قانون له حکم سره سم انتخابيږي.

اوه نوي يمه ماده

د ولسي جرگې غړی د غونډو په يوې دورې کي د پنځلسو پرله پسې ورځو غيرقانوني غيرحاضری په صورت کي د همدې دورې له مالي حقوقو او امتيازاتو نه محرومېږي او که دا غيرحاضري يوې مياشتي ته ورسېږي نو په ولسي جرگې کي د ده عضويت ختمېږي.

اته نوي يمه ماده

- ولسي جرگه نشي کولی داسي قوانين وضع او تصويب کړي چې د هېواد له رسمي مذهب او اساسي قانون سره مغايرت ولري.
- ولسي جرگه نشي کولی د انتخاباتو په قانون کي داسي تبديلي راولي چې د اساسي قانون له غوښتنو سره مغايرت لري او د تقنينيه دورې په وروستي کال کي دا قانون تر بحث لاندي نشي نيولی.





# شپږم فصل

## ستره شوری

نه نوي يمه ماده

ستره شوری د افغان ولس د ارادې تر ټولو ستر مظهر دی چې غړي ئې دا دي:

١. د ولسي جرگې غړي
٢. د ولسواليو او ولاياتو د جرگو رئيسان
٣. ولسمشر او د ستري محکمې رئيس
۴. د قانون ساتې شوری غړي

وزيران کولی شي د ستري شوری په غونډو کي شرکت وکړي پرته له دې چې د رأيي ورکولو حق ولري.

سلمه ماده

ستره شوری لاندي صلاحيتونه لري:

١. د اساسي قانون تصويب او تعديل
٢. د جگړي پرېکړه
٣. په سترو ملي مسايلو پوري اړوند هغه قضايا څېړل او

وروستی تصمیم نیول چي د هېواد په خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي حاکمیت پوري تړلې دي.

۴. د ولسمشر د محاکمې او عزل پرېکړه

**یوسل یومه ماده**

ستره شوری په خپلي لومړۍ غونډې کي خپل رئیس، د هغه نائب او منشي او نائب ئې د رأیو په اکثریت سره غوره کوي.

**یوسل دوهمه ماده**

- ستره شوری به هر کال کي یو ځل رسمي غونډه لري. دا غونډه به د ستري شوری د تأسیس له ورځي سره متصادف وي.
- د ستري شوری د غونډو نصاب د مجموعي شمېر دوه ثلثه دئ او د پرېکړو لپاره ئې نصاب د حاضرو غړو اکثریت دئ. په استثنی د هغو مواردو کي چي قانون د دوه ثلثه موافقه ضروري ګڼي.

**یوسل درېیمه ماده**

د ستري شوری غونډې علني دي، مګر دا چي د شوری څلورمه برخه د غونډې د سري والي غوښتنه وکړي او شوری د دوی د غوښتنه ومني.

**یوسل څلورمه ماده**

د دې شوری غړي د ولسي جرګې د غړو په څېر د خپلي رأیې د څرګندولو په اړه قانوني مصئونیت لري





# اوم فصل

# قضاء

**یوسل پنځمه ماده**

قضائیه قوه د اسلامي دولت مستقل رکن دئ چي وظیفه ئې د شریعت تنفیذ، د عدالت تأمین، د فرد او اجتماع له حقوقو نه دفاع، د قوانینو پر اجراء نظارت، د جرمونو کشف او د مجرمینو تعقیب او مجازات، د جرمونو مخنیوی او د مجرمینو اصلاح او تربیت ده.

- قضائیه قوه د ابتدائیه او استئناف له محکمو او ستري محکمې څخه جوړه شوې.
- ستره محکمه د قضائیه قوې په سر کي تر ټولو مقتدره اداره ده.
- د قضائیه قوې تشکیلات، داخلي مقررات او صلاحیتونه په ځانګړي قانون کي توضیح کېږي.

**یوسل شپږمه ماده**

ستره محکمه یولس غړي لري چي د قضائیه قوې د عالي شوری لخوا له غوره کېدو وروسته د ولسمشر په وړاندیز او د ولسي جرګې په موافقې د اوو کلونو لپاره ټاکل کېږي.

يوسل اومه ماده

د ستري محكمې د غړو مواصفات دا دي:

۱. عمر ئې تر څلوېښتو كلو لږ نه وي
۲. ښه سيرت او نېك شهرت ولري
۳. په قرآن او حديث پوه وي، كافي فقهي پوهه ولري او د هېواد په قضائي نظام كي تخصص او د پام وړ تجربه ولري.
۴. په فساد او خيانت نه وي محكوم شوى
۵. له توطيف نه وروسته د كوم سياسي گوند عضويت ونلري.
۶. د لوړي قضائي شورى د ډېرى غړو تأييد ئې ترلاسه كړى وي

يوسل اتمه ماده

د ستري محكمې غړي د خپلې وظيفې له پيل نه مخكي د ولسمشر په وړاندي په لاندي الفاظو لوړه كوي:

د الله تعالى په نامه لوړه كوم چي د اسلامي شريعت له حكمونو او د اساسي قانون له غوښتنو سره سم به حق او عدالت تأمينوم، په هرې قضيې كي به د شريعت او قانون په رڼا كي قضاوت كوم، نه به د شريعت خلاف رأيه وړاندي كوم او نه به د قانون خلاف پرېكړه كوم، د قضاء سپېڅلې وظيفه به په بشپړ امانت، صداقت او بې طرفۍ سرته رسوم. والله على ما اقول وكيل.

يوسل نهمه ماده

• قضائيه قوه د ټولو هغو قضاياوو او دعوو د څېړلو صلاحيت لري چي د حقيقي يا حكمي ذواتو له لوري په قانوني توگه محكمې





ته وړاندي كېږي. د دولت اړوند دعاوي، كه د مدعي په توگه وي يا مدعي عليه په توگه، قضائيه قوې ته راجع كېږي.

• قضائيه قوه د هري هغي فيصلې، مقررې او لايحې د ابطال حق لري چي د شريعت مخالف وي او يا د وگړو او اجتماع مسلم حقوق تر پښو لاندي كړي.
• هر فرد او ډله كولى شي د داسي فيصلو او پرېكړو د ابطال لپاره محاكمو ته مراجعه وكړي.

يوسل لسمه ماده

هيڅ قانون، په هيڅ حال كي نشي كولى د قضاياوو د څېړلو په اړه د قضائيه قوې د واك ساحه محدود كړي او بلې مرجع ته ئې محول كړي، د قضائيه قوې له محدودې بهر د خصوصي او نظامي محكمو تشكيل د قانون خلاف عمل گڼل كېږي.

يوسل يولسمه ماده

• ستره محكمه د حكومت، محكمو او افرادو په غوښتنه كولى شي له اساسي قانون سره د ټولو لوايحو، مقرراتو، تقنيني احكامو، بين المللي معاهدو او ميثاقونو مطابقت وڅېړي او په اړه ئې پرېكړه صادر كړي.
• ستره محكمه له اساسي قانون نه پرته د ټولو نورو قوانينو د تفسير صلاحيت لري.

يوسل دولسمه ماده

د قضائيه قوې د مامورينو په اړه د دولت د نورو مامورينو اړوند

قوانین نافذ دي خو د دوی تقرر، انفکاك، ترفیع، تقاعد، مجازات او مکافات د ستري محکمې له لوري د قانون مطابق ترسره کېږي.

یوسل دیارلسمه ماده

د ولسي جرگې درېیمه برخه غړي کولی شي د ستري محکمې د رئیس یا غړي د محاکمې یا عزل غوښتنه وکړي او د ولسي جرگې دوه ثلثه غړي د هغه د عزل او محاکمې پرېکړه کولی شي، محاکمه به ئې د قانون مطابق او د ستري محکمې لخوا د ټاکلي محکمې له لوري ترسره کېږي.

یوسل څوارلسمه ماده

- د افغانستان په محکمو کي ټولي محاکمې په علني توگه ترسره کېږي او هر څوك له قانون سره سم په هغوی کي د گډون حق لري. استثنائي حالات په قانون کي توضیح کېږي، خو د حکم اعلان به په هرصورت کي علني وي.
- محکمه مکلفه ده د صادر شوي حکم ټول اسباب او دلایل په خپلي پرېکړي کي څرگند کړي.

یوسل پنځلسمه ماده

- د محکمو ټولي پرېکړي واجب التعمیل دي.
- قاتل او ضارب له مضروب او د مقتول له ورثه وو پرته هیڅوك نشي بخښلی.
- حدود نشي معاف کېدی
- په هغو مواردو کي چي د کوم انسان حق تلف شوی، له متضرر





شوي کس نه پرته بل څوك د مجرم سزا نشي بخښلی.

- په نورو مواردو کي د قتل د پرېکړي له تنفیذ سره د ولسمشر توافق ضروري دئ

یوسل شپاړسمه ماده

- د افغانستان د اسلامي دولت ټول محاکم؛ په ټولو هغو قضایاوو کي چي ورته راجع کېږي، د شریعت احکام پلي کوي او په حقوقي او جزائي برخو کي د حنفي فقهي مطابق پرېکړي کوي.
- محکمه کولی شي په شخصي منازعاتو کي او هغه مهال چي د قضیې اړوند لوري د نورو مذاهبو پلویان وي، د دوی په اتفاقي غوښته، د نورو اسلامي مذاهبو پر بنسټ د منازعې د حل و فصل پرېکړه وکړي.

یوسل اولسمه ماده

- قاضیان د ستري محکمې په وړاندیز او د ولسمشر په منظوري ټاکل کېږي.
- د قاضیانو د تقرر، تبدیلي، ترفیع، مؤاخذې او تقاعد پرېکړه د ستري محکمې صلاحیت دی.
- که قاضي په جنایت متهم شي، قضیه د ستري محکمې له لوري څېړل کېږي، د جرم د اثبات په صورت کي ولسمشر ته د هغه د عزل وړاندیز کوي او له عزل کېدو وروسته د قانون له حکم سره سم مجازات کېږي

يو سل اتلسمه ماده

- د جرمونو کشف د پوليس لخوا او تحقيق او په محکمې کي د دعوا اقامه د څارنوالۍ له لوري د قانون له احکامو سره سم تر سره کېږي.
- څارنوالي د اجرائيه قوې برخه او په خپلو اجراءاتو کي خپلواکه ده، تشکيل، صلاحيت او د اجراءاتو څرنګوالی ئې د قانون له لاري تنظيمېږي
- د وسله والو ځواکونو، پوليسو او ملي امنيت کارکوونکو د وظيفوي جرمونو کشف د ځانګړي قانون مطابق او تحقيق ئې د څارنوالۍ لخوا ترسره کېږي، ستره محکمه او څارنوالي کولی شي د دوی لپاره ځانګړې اداره او محکمه جوړه کړي.

يو سل نولسمه ماده

د دعوی لوري په خپلي مورنۍ ژبي د قضيې پر موادو او اسنادو د پوهېدو او خبرو کولو حق لري





# اتم فصل
# قانون ساتې شوری

يو سل شلمه ماده

قانون ساتې شوری د اساسي قانون د تفسير او لدې قانون سره د هېواد د نورو مهمو قوانينو د مطابقت څېړلو تر ټولو لوړه مرجع ده.

يو سل يوويشتمه ماده

قانون ساتې شوری په لاندي توګه له يو د يرش غړو څخه جوړه شوې:

۱. د ولسي جرګې رئيس
۲. د ستري محکمې رئيس
۳. لوی څارنوال
۴. د هغو احزابو مشران چي په ولسي جرګې کې لږ ترلږه شل غړي لري.
۵. کوم احزاب چې په ولسي جرګې کي تر شلو زيات غړي لري د هرو شلو غړو په مقابل کي يو داسي کس قانون ساتې شوری ته معرفي کوي چي په شرعي علومو کي کافي پوهه ولري او په قانوني او حقوقي چارو کي د بصيرت خاوند وي.

۲. باقي غړي ئې د ستري شورى د غړو له لوري له هغو شخصيتونو څخه غوره کېږي چې پورتني مواصفات لري.

د ستري شورى غړي کولی شي د دې شورى له غونډې پرته هم د قانون ساتې شورى د غړو په اړه خپله رأيه اظهار کړي.

يوسل دوه وېشتمه ماده

- قانون ساتې شورى خپل رئيس، نائب رئيس او منشي، محدود اداري هيئت او د قوانينو د څېړلو ثابت متخصص هيئت د رأيو په اکثريت سره غوره کوي.
- د دې شورى غړي د پنځو کلو لپاره غوره کېږي.



د اسلامي دولت اساسي قانون

# نهم فصل

## اداره

يوسل درويشتمه ماده

- د افغانستان د اسلامي دولت اداري نظام دوه؛ مرکزي او محلي برخي لري، مرکزي اداره په وزارتونو او محلي اداره په ولاياتو مشتمله ده، دې ته ترجيح ورکړی شوې چې په محدود اداري نظام اکتفاء وشي او د هيواد مالي امکانات په عمراني برخو کې او د هېوادوالو د اقتصادي حالت په ښه کولو ولګېږي.
- د وزيرانو د شورى د غړو شمېر د ولسمشر او د ولسمشر د مرستيال په شمول له اولسو تنو او د ولاياتو شمېر له دېرشو نشي زياتېدی.
- هيڅ وزارت له نهو زيات رياستونه نشي درلودی
- هغه سيمه د يوه ولايت په توګه منل کېږي چې نفوس ئې تر اوو لکو لږ نه وي او لږ تر لږه نه ولسوالۍ ولري
- په هيڅ ولايت کې تر څوارلسو زياتي ولسوالۍ نشي جوړېدی.
- هغي سيمي ته د ولسوالۍ نوم ورکول کېږي چې نفوس ئې تر

اويا زره لږ نه وي

• د ولایاتو او اړوند لاندي ادارو شمېر، ساحه او تشکیلات ئې د نفوسو د شمېر او جغرافیایي حالت له مخي ټاکل کېږي.

• د وزارتونو تشکیلات تر ریاستونو پوري او د ولایاتو تشکیلات تر ولسوالیو پوري د ولسمشر په وړاندیز او د ولسي جرګې په موافقې جوړېږي.

• د دغو ادارو د مسئولینو وظایف او صلاحیتونه د ولسمشر په وړاندیز او د ولسي جرګې په تأیید ټاکل کېږي.

یوسل څلرویشتمه ماده

• هر ولایت خپله منتخبه ولایتي جرګه لري چي د ولایت د نفوسو د شمېر په تناسب به ئې د غړو شمېر لږترلږه د ولسوالیو د شمېر په اندازه او زیات نه زیات د دې شمېر دوه برابره وي.

• هر سیاسي ګوند او انتخاباتي مجموعه به په اړوند ولایت کي د خپلو لاس ته راوړو رأیو په تناسب خپل استازي دې جرګې ته معرفي کوي.

• ولایتي جرګه له خپلو غړو څخه یو تن؛ د رأیو په اکثریت د رئیس په توګه غوره کوي.

• د دې جرګې غړي د پنځو کلو لپاره غوره کېږي.

یوسل پنځه ویشتمه ماده

د ولایتي جرګې دندي دا دي:

۱. د ولایت په چارو کي والي ته او د ولایتي چارواکو په اړه





ولسمشر او مرکزي ادارو ته مشوره ورکول.

۲. د جرګې دوه ثلثه غړي کولی شي له ولسمشر نه د والي د عزل غوښتنه وکړي، ولسمشر به یا دا غوښتنه مني او یا به جرګې ته قناعت ورکوي، د عدم قناعت په صورت کي قضیه ولسي جرګې ته محول کېږي.

۳. والي په اړوند چارو کي له ولایتي جرګې سره په مشوره مکلف دی، د دوی پوښتنو ته به ځواب وایي او له خپلو اجراءاتو څخه به ئې خبروي.

یوسل شپږ ویشتمه ماده

• هره ولسوالۍ خپله منتخبه شوری لري چي د غړو شمېر به ئې د ولسوالۍ د نفوسو په تناسب لږترلږه نه کسان او زیات ترزیات اولس تنه وي.

• هر سیاسي ګوند او انتخاباتي مجموعه به په اړوند ولسوالۍ کي د خپلو لاس ته راوړو رأیو په تناسب خپل استازي دې جرګې ته معرفي کوي.

• د ولسوالۍ جرګه له خپلو غړو څخه یو تن؛ د رأیو په اکثریت د رئیس په توګه غوره کوي.

• د دې جرګې غړي د پنځو کلو لپاره غوره کېږي.

یوسل اوه ویشتمه ماده

د ولسوالۍ د جرګې دندي د ولسوالۍ په کچه ولایتي جرګې ته ورته دي.

يو سل اته ويشتمه ماده

- د هر جامع جومات په سطح د مربوطه سيمي د دائمي او موقت اوسېدونكو (كليوالو او كوچيانو) په رأيه كليواله شوری جوړېږي، دغو شوراګانو ته دا واك وركول كېږي چي د خپلي سيمي د ورځنيو لانجو او شخړو د حل و فصل، روغې جوړې او د ضرورت په صورت كي قضا ته د محول كولو صلاحيت ولري.
- د دغو جرګو غړي د دريو كلو لپاره غوره كېږي.
- په ساحه كي د دولت اداري چارواكي به د دغو شوراګانو مشورو ته ترممكنه حده اعتناء كوي.

يو سل نه ويشتمه ماده

- د ښاري چارو د تنظيم او اداري لپاره ښاروالۍ جوړېږي.
- هره ښاروالۍ منتخبه شوری او منتخب ښاروال لري چي د ښاريانو په مستقيمه رأيه د دريو كلو لپاره غوره كېږي.
- د ښاروالیو وظايف او صلاحيتونه د ځانګړي قانون له مخي ټاكل كېږي.





# لسم فصل
# اضطراري حالت

يو سل دېرشمه ماده

- كه پر هېواد د بريد، جګړي، لوی اغتشاش او ستر آفت په وجه د دولت عادي اجراءات او د قانون پلي كول په ټول هېواد يا د هېواد په كومي برخي كي محال او ناشوني شول، دې حالت ته د اضطرار حالت ويل كېږي.
- د اضطرار حالت د ولسمشر په وړانديز او د ولسي جرګې په موافقه تر دوو مياشتو اعلانېدی شي، د تمديد په صورت كي ئې د ستري شوری موافقه ضروري ده.

يو سل يو دېرشمه ماده

ولسي جرګه او ستره شوری به هغه فوق العاده صلاحيتونه مشخص كوي چي د اضطرار په دغو حالتونو كي ئې د ولسمشر په واك كي وركول ضروري ګڼي.

يو سل دو دېرشمه ماده

د اضطرار په حالت كي لاندي فوق العاده واكونه دولت ته موقتاً وركول كېږي:

۱. د محکمې له حکم نه پرته د مشکوکو کسانو نیول، توقیف، له هغوی نه تحقیق، استوګنځي ئې پلټل او په مراسلاتو ئې نظارت کول.
۲. په غونډو او تظاهراتو بندیز

یوسل دري د برشمه ماده

د اضطرار په حالت کې نه په اساسي قانون کې تعدیل راتلی شي او نه ئې نوري برخې معطل کېدی شي.

یوسل څلور د برشمه ماده

- که د اضطرار حالت د انتخاباتو تر نېټې دوام وکړي، ولسي جرګه کولی شي انتخابات تر دریو میاشتو وځنډوي، د مزید ځنډولو صلاحیت ئې د ستري شوری په واك کې دئ.
- د اضطرار حالت له ختمېدو وروسته به د دوو میاشتو په منځ کې انتخابات ترسره کېږي.

یوسل پنځه د برشمه ماده

د اضطرار په حالت کې دولت ته ورکړې شوی فوق العاده صلاحیتونه د دې حالت له پای ته رسېدو سره سم پای ته رسي.





# یولسم فصل
# متفرقه احکام

یوسل شپږ د برشمه ماده

- په دې اساسي قانون کې داسې تعدیل نشي راتلی چې له اسلامي شریعت سره تطابق ونلري
- مجاز تعدیل د قانون ساتې شوری په وړاندیز او د ستري شوری د دوه ثلثه غړو په موافقه راتلی شي.

یوسل اوه د برشمه ماده

- له عمومي انتخاباتو نه مخکې هر هغه حزب او ډله چې په انتخاباتو کې برخه اخلي د حزب دننه انتخابات ترسره کوي؛ تر څو خپل منتخب مشر او د هر اداري واحد په کچه منتخب استازی غوره کړي، دا انتخابات له دوی سره مرسته کوي چې د ولسمشرۍ او ولسي جرګې لپاره داسې غړي ونوموي چې د غړو ډېری ئې ملاتړ کوي.
- کوم منتخب غړي چې د جرګې د عضویت په دوران کې د خپلو موکلینو د رأیې خلاف له بل حزب سره یوځای شي، په جرګې کې خپل غړیتوب له لاسه ورکوي، دا ځکه چې ولس هر غړي ته د یوې داسې مجموعې په ضمن کې رأیه ورکړې چې ځانګړې تګلاره لري،

بلي ډلي ته د دوی تګ د دې اعتماد او شرط خلاف دئ. دا د دې لپاره چي په جرګې کي د ناروا تنافساتو مخنيوی وشي او د آراءو د پير پلور او د امتيازاتو د ترلاسه کولو په موخه له يوې ډلي بلي ته د تګ راتګ مخنيوی وشي،

• د جرګې په غونډو کي به رأی اچونه علني وي مګر په هغو مواردو کي چي د جرګې دوه ثلثه د سري والي غوښتنه وکړي.

• په مجلس کي به د هري ډلي لپاره د ناستي بېله برخه ټاکل کېږي، لويې ډلي ښي او کيڼ لوري ته مخکي او وړې ورپسې.

يوسل اته دېرشمه ماده

• هر کال به د نوی افغانستان د تأسيس ورځ د سترو ملي مراسمو په ترځ کي لمانځل کېږي، په دې ورځ به عامه رخصتي وي.

• د ايرانيانو، انګرېزانو، روسانو او امريکايانو د يرغل ورځي او د ثور اومه به تل د تورو ورځو په توګه غندل کېږي او د دغو يرغلګرو ځواکونو له اشغال نه د هېواد د آزادۍ ورځي به د تاريخي ورځو په توګه لمانځل کېږي.، په دغو ورځو کي به له رخصتۍ پرته خاص مراسم ترسره کېږي.

يوسل نه دېرشمه ماده

• د افغانانو ملي او قانوني لباس د شريعت په رڼا کي ټاکل کېږي، د شرعي لباس فرضي حد همغه دئ چي په لمانځه او د حج په مراسمو کي ئې بايد ښځي او سړي مراعات کړي، له دې زيات په مستحباتو کي راځي او د خلکو خوښي ته پرېښودل شوي.





• د سړو او ښځو لپاره ګناه ته هڅوونکې او د انساني کرامت مغاير جامه ممنوع ده.

• له ښځو او د دوی له تصوير نه د تجارتي اعلاناتو او دې ته ورته اغراضو لپاره کار اخستل منعه دي

• د دې لپاره چي د نجونو او هلکانو مختلط تعليمي نظام منفي پايلي لري، دولت به په اختلاط نه ولاړ تعليمي نظام رامنځته کوي.

• همداراز دولت به په اداري نظام کي داسي تبديلي راولي چي د نامحرمو د غيرمجاز اختلاط مخنيوی وکړي.

يوسل څلوېښتمه ماده

• د افغانستان په اسلامي دولت کي جومات يوازنی سپېڅلی مذهبي مقام دی چي ټول ولس ئې په درناوي او احترام مکلف دي.

• خطيب او امام په ديني او اجتماعي چارو کي د ولس لارښوونه کوي.

• امام، خطيب او مؤذن د لمونځ کوونکو له لوري غوره کېږي، هغه څوك تر نورو د امامت لپاره اهل ګڼل کېږي چي ديني پوهه ئې تر نورو زياته او قرآن ئې تر نورو زيات حفظ وي.

• د چا پر خطابت، امامت او آذان چي لمونځ کوونکي راضي نه وي خپلي دندي ته دوام نشي ورکولی.

• د امامت، خطابت او آذان په بدل کي مالي معاوضه نشي ترلاسه کېدی.

• د قانون له ماتولو او بغاوت ته د خلکو له رابللو پرته په نورو

مواردو كي د جومات خطيب په خپلو خطبو او مواعظو كي آزادي او مصئونيت لري.

يوسل يو څلوېښتمه ماده

د هيڅ انسان د تجليل او تعظيم لپاره د هغه مجسمه او تصوير او پر قبر ئې قبه، زيارت، جومات او مېله ځاى نشي جوړېدى او جنډه او بيرغ نشي پرې ودرېدى

يوسل دوه څلوېښتمه ماده

ولسمشر، د ده مرستيال، وزيران، د ستري محكمې رئيس او غړي، واليان او د وسله والو ځواكونو او پوليسو جنرالان له دولتي ادارو او اشخاصو سره هيڅ ډول انتفاعي معامله نشي ترسره كولى، د ورځنيو شخصي اړتياوو په ارتباط راكړه وركړه لدې حكمه مستثنى ده.

يوسل دري څلوېښتمه ماده

ولسمشر، د ولسمشر مرستيال، وزيران، د ولسي جرگې رئيس، د ستري محكمې رئيس، غړي او قاضيان، واليان او د وسله والو ځواكونو او پوليسو افسران د وظيفې د تصدي په دوران كي په نورو مشاغلو د مصروفېدو حق نلري. هغه تدريسي، روزنيز او څېړنيز مصروفيتونو له دې مستثنى دي چي په فارغو فرصتونو كي ترسره كېږي.

يوسل څلورڅلوېښتمه ماده

قاضيان، څارنوالان، د فوځ او پوليس افسران او د ملي امنيت





كاركوونكي د وظيفې په دوران كي د سياسي فعاليت او په سياسي گوندونو كي د عضويت حق نلري.

يوسل پنځه څلوېښتمه ماده

د ولسمشر، د ولسمشر د مرستيال، وزيرانو، د ستري محكمې د رئيس، غړو او قاضيانو، واليانو، د وسله والو ځواكونو او پوليسو د لوړ پوړو افسرانو شتمني؛ له توظيف نه مخكي او د مأموريت په پاى كي، د اړوند ادارې له لوري ثبت او اعلانېږي او د غير موجه زياتوالي پوښتنه ترې كېږي.

يوسل شپږ څلوېښتمه ماده

- د انتخاباتو د اجراء مستقل رياست د خپلواكې ادارې په توگه د انتخاباتو د اجراء دنده په غاړه لري.
- د انتخاباتو اړوند لوايح او مقررات د ولسي جرگې له لوري تصويب كېږي.
- رئيس او د شورى غړي ئې د ولسي جرگې له لوري د شپږو كلو لپاره غوره كېږي.

يوسل اوه څلوېښتمه ماده

- د افغانستان په هيڅ گوټ كي او په هيڅ پلمه بهرني وسله وال ځواكونه نشي مستقر كېدى، نه د كورنۍ جگړې د ختمولو په پلمه او نه د بهرني تېري د دفعه كولو په پلمه، هيڅ بهرني هېواد ته د نظامي اډو جوړولو اجازه نشي وركول كېدى.
- د هېواد په سرحدي پولو كي هر ډول بدلون ممنوع دى، مگر

هغه جزئي اصلاحات چې يوطرفه نه وي، د هېواد گټې پکې مراعات شوې وي، او زمونږ خپلواکي او د هېواد ځمکنۍ بشپړتيا ته زيان ونه رسوي، او د سترې شورى ۷۵% د هغه په تأييد کې رأيه ورکړې.

- د افغانستان اسلامي دولت کولی شي هر هغه چا ته سياسي پناه ورکړي چې د اسلامي شريعت له مخې د پناه ورکولو مستحق وي.
- په افغانستان کې مېشت خارجي اتباع د دې هېواد د قوانينو په رعايت مکلف دي.
- دولت د دوی د حقوقو رعايت او حفاظت تضمينوي.

يوسل اته څلوېښتمه ماده

د هېواد د اشغال او د اشغالگرانو په لاس د تېل شوو حکومتونو د تسلط په دوران کې د عامه ملکيتونو او افتخاري القابو اعطاء لغوه او بې اعتباره دي.

يوسل نه څلوېښتمه ماده

- د دې قانون له مخې دا کسان د جنايتکارانو او ملي خائنانو په نامه يادېږي:

۱- بهرنيو ځواکونو ته ئې پر هېواد د بريد بلنه ورکړې وي
۲- د پرديو تر قومندې لاندې د خپل ولس په ضد جنگېدلی وي
۳- د هېواد د اشغال په دوران کې په وسله والو ځواکونو، پوليس او استخباراتي ادارو کې په مهمو دندو گمارل شوي وي.
۴- بهرنيو ته ئې د هېواد د سلامتيا په ضد جاسوسي کړې وي او داسې اطلاعات ئې ورکړي وي چې هېواد ته ئې تاوان رسولی.



۵- په ډله ييزو قتلونو کې ئې لاس وي.

- له سترې شورى پرته هيڅوک جنايتکاران نشي بخښلی، د عفوې په صورت کې هم په مهمو دولتي دندو نشي گمارل کېدی.

يوسل پنځوسمه ماده

دولت مکلف دئ چې د ښاري او کليوال ژوند تر منځ شته ژور توپيرونه له منځه يوسي او پرېښېږدي چې د ښارونو په ځانگړې توگه د مرکز اوسېدونکو ته هومره تسهيلات ورکړی شي چې له اطراف سره ئې مقايسه ممکن نه وي، برېښنا، پاکې اوبه، روغتونونه، پوهنتونونه، پاخه سړکونه، پارکونه، بنگلې او ... ټول په مرکز کې او اطراف له دې ټولو محروم، دا کار له يوې خوا د عدالت خلاف او ظالمانه دی او له بلې خوا په ښارونو کې د خلکو د تجمع او له اطراف نه ښارونو ته د خلکو د راکوزېدو باعث کېږي او کرنه چې د هېواد اقتصادي برخې ترټولو ستره منبع ده په کلکه زيانمنه کېږي.

يوسل يو پنځوسمه ماده

د دې اساسي قانون د تصويب او تنفيذ لپاره لاندې اجراءات ترسره کېږي:

- له شپږو نه تر نهو مياشتو مودې لپاره به موقت حکومت جوړېږي.
- د دې حکومت تر اشراف لاندې د انتخاباتو د بې طرفه او مستقل رياست له لوري او د دې اساسي قانون مطابق، د متناسب تمثيل پر بنسټ به داسې يو ځلي انتخابات ترسره کېږي چې په نتيجه کې ئې

منتخب ولسمشر او د ولسي جرگې او ستري شورى غړي انتخاب شي.

- ستره شورى به دا اساسي قانون تصويبوي او د منتخب ولسمشر له توشيح وروسته به د نافذ اساسي قانون بڼه غوره کوي
- د دې اساسي قانون له تصويب نه وروسته، ټول هغه قوانين او مقررات لغو دي چې لدې قانون سره مغايرت لري.

# ملي سرود

ښاد آباد کړې باري ربه خوږ وطن د افغانانو
دا معبد د خدای منونکو، دا مرقد د شهیدانو
د ده نوم دئ لیکل شوی د تاریخ په زړه کي ښکلی
دا معبر د ښکیلاکګرو، دا مدفن د غاصبانو
فاتحان به څنګه سرکړي ستا د دنګو غرونو څوکي
نسکور شوی دلته تل دئ هر بیرغ د غلیمانو
روزل شوي ستا په غېږ کي د تاریخ بت ماتونکي
زېږنتون د فاتحانو، روزنتون د مخکښانو
هره لوېشت ستا د لمني د شهید په وینو سره ده
ته هېواد د اتلانو، ته مورچل د مؤمنانو
په لېمو دي قبول کړي ګران ګامونه د غازیانو
شیندي خاورې د سپکاوي په سر مخ د چاکرانو
دلته او سپینه ایمان دي تېکر شوي څو څو ځله
له ذلت نه پرته نه وو برخلیك د ملحدانو





تا تم کړي طوفانونه، ټول عالم ستا پوروړی
ته یاور د مستضعفو، ته ناجي د بې وزلانو
د تقدیر لومه ئې کارې غولېدلي ستا په لوري
د زوال نېټه چي راشي د زبرځواکو سرکښانو

لا اله الا الله محمد رسول الله

الله اکبر

إن الحکم إلا لله

د افغانستان اسلامی دولت

۱۱۲۶هـ ش